کابل

د ۱۳۳۶ش کال د اسد اول د ۱۳۷۶ق کال د ذوالحجه ۲۶ د ۱۹۵۷ع کال د جولای ۲۴

په دی گڼه کښې :

اریانا، خراسان، افغانستان
د غرب تمدن
د مینی سزا
فتواء
د تعصب توضیح
د ژوند حوله
مه وایه
دو همه پشتی «چیری ولاړ ی»
عقیده
د حنان دیوان
عکسونه (۷)

July 24, 1957

2 - JAN 17
Copy ____ 1958

ولولی!!

پرله پسی گڼه (۴۳۷)

چیری لاړی

ښاغلی «پسرلی»

آتش پرستې لیلی، چېری ولاړې؟ — آتشکده د زړه سړ ېږی رانه
څو به لېمه په تصور رڼوم؟ — راځه، چه حسن دی هېر ېږی رانه
راشه، تازه می کړه د زړه زخمونه — زښته وېر ېږم چه جوړ ېږی رانه
د تصور و نه دی مه شه وچه — چینې د ستر گو می و چېږی رانه
که مرور محبت نشی پخلا — خوښی می ولاړه، زړه ډو بېږی رانه
بس دی د سخت زړه خودی ډېر و منل — ښه ارمانونه خاوری کېږی رانه
بیا به له چا نوی سندری اورې؟ — روانه طبعه مرور ېږی رانه

پر ېږده له عشقه دی الهام واخلم
یا دې له حسنه د زړه کام واخلم

(۲۷ کال) (۷) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م، د، «ژواك»

پته: کابل نادر پښتون واټ د پل خشتی د پله مقابل

د تیلفون لمبر (...)

دژوند له کتابه

عقیده

ویل ئې اولوئی ټولنی چه «نه شل کیږ» .

دې عقیدې اثر کاوه او ډیر کلو نه .

دوی تله اوراتله- دقسمت پزور اوداجل په واك .

ستر گی ئې درلودې غوږوئې اوریدل- فکرونه ئې هم چلېدل مگر (۹) ئې نه شل کیدل

نورو تعجب کاوه خود وی خندل .

نور د شل څخه دیرشوته رسیدلی و- خودوی دیو ه څخه تردوو پوری لا نه ؤرسیدلی

او دهمدې عقیدې به لرلوچه «نه شل کیږی»

دافکرو اوترهرفکر و ړاندی- نوځکه- «دوی» سردرلود او خولی نه- کریوان

موجود مگر سرنه شو ورته کښته کیدلای .

نا ببره دیوه ترخوله داخبره ووتله چه «شل کیږی»

خنداشوه او دخنداسره هر بوه په توبوهم پیل وکړ- داتوبې وې -وې .....

دوی په کفن- فاتحه خیراتونو مشغول شول مگر د «شل کیږی»

لفظ بیا دهیچاله خواتکرار نه شو- ولاره اوهمدغه مرحومان! ! (اللهم اغفرلهم)

ژواك

اریانا خراسان افغانستان

زمونږ مؤرخین او محققین لیکی (۱) چه د افغانستان نوم د اسلام له ظهور نه پخوا د اریانا) ؤاو په لومړی هجری قرن کښی د خراسان نوم راپیدا شو دا نوم لومړی ځل بلاذری په خپل کتاب فتوح البلدان کښی په ۲۵۵ هجری کښی ولیکه.

په دولسم هجری قرن کښی د خراسان کلمه په افغانستان بدله شوه چه تر اوسه د مملکت رسمی او ملی نوم دی.

هغه وخت چه د اهیواد د اریانا په نامه یادیده مهم ولایات ئې داؤ: باختر (بلخ) تخار (مرو) اریا (هرات) خوارزمیش (خوارزم) اپارتیا (طوس او نیشاپور) کارامانیا (کرمان) سکاستین (سیستان) اراکوسیا (قندهار) گدروسیا (بلوچستان) پاکتیا (دخوست ولایت ترسنده پوری) گندهارا (دپښور ولایت ترکابله پوری) پاروپامیس (غور او هزارجات)

کله چه د خراسان نوم د ساسانیانو په وخت کښی پیدا شو په ابتداء کښی د افغانستان دیوی برخې نوم ؤاو نورو برخو نور نومونه لرل لکه چه د سیستان د تاریخ لیکونکو لیکی چه د عربو له راتګ نه د مخه افغانستان په ۳ لویو برخو وېشلی ؤاو شمالی برخه د «باختر» په نامه جنوبی برخه د «نیمروز» په نامه وسطی برخه د «خراسان» په نامه بلل کېده او په دغه حساب د افغانستان له دری برخو نه یوه برخه د خراسان په نامه وه.

کله چه د عربو لومړی لښکر له فارس څخه مشرق خواته راغی نو د کرمان له نیولو وروسته ئی اول ځل د خراسان نوم واورېده او دا لاندې ولایات او ښارونه ئې د خراسان په نامه وپېژندل:

نیشاپور، هرات، مرو، تخارستان، بلخ، ماوراءالهنر، خوارزم.

د عربو دوهم لښکر چه د افغانستان جنوب غرب ته راننوتل نو د سجستان (سیستان) کابل او سندله نومونو سره آشنا شوه او د هندوکش د جنوب او د هېرمند د حوزې ښارونه ئی د سند ترسینده او بحر عرب پورې په دغو درو نومونو وپېژندل بلاذری افغانستان په دری برخو (خراسان، سیستان، سند) وېشلی دی او دغه تقسیم تر څو قرنو د افغانستان په جغرافیه کښی وساتل شو.

د اسلام مؤرخین او جغرافیه لیکونکو ادیرنګی مستشرقینو هم دغه تقسیمات په لږ تغیر وساتل مثلا په دریم هجری قرن کښی ابوبکر احمد بن محمد همدانی خاص خراسان دا ځایونه ګڼی نیشاپور (او سنی خراسان) هرات، مرو، خوارزم، تخارستان بلخ ماوراءالهنر (فرغانه) ابن خرداد هم خاص خراسان په څلورو برخو وېشی او په دغو برخو کښی دا ښارونه او ځایونه داخل ګڼی: بست، رخج (قندهار) کابل، زابلستان هرات، بلخ، تخارستان (قطغن او بدخشان) مرو، نیشاپور، خوارزم، بخارا، صغد، خجند، فرغانه.

(۱) ماخذونه: اریانا دایرة المعارف خراسان دښاغلی غبار تالیف د افغانستان تاریخ اوځنی نور کتابونه

ابی اسحق ابراهیم بن محمد اصطخری (سیستان، سند، کرمان) له خراسان څخه بېلوی او خوارزم هم تر ېنه منفك ګڼی دده په نزد نیشاپور، مرو، هرات بلخ، بامیان، غرجستان تخارستان اوغور په خراسان کښی داخل دی اوس.

یاقوت حموی د (۷ هجری قرن) جغرافیه لیکونکی هم خراسان (نیشاپور، هرات، مرو، بلخ) ته وائی

ابوالفداء د (۸ هجری قرن) مؤرخ هم همدغه څلور ولایتونه خراسان ګڼی او دابن حوقل یه قول تخارستان، زابلستان اوغور د خراسان له مضافاتو څخه ولی.

په هرحال وروسته له دغه رار تغیرا و تحول څخه چه د خراسان پهسیمه کښی راغلی دی په اخره کښی دخراسان کلمه وتیو او خراسان اوس هغه ولری تو تي تهویل کیږی چه دافغانستان له اوسنیو حدودو څخه دباندی ده، یعنی هغه تاریخی خراسان چه یو وخت په ډیروسیع او پراخ مملکت اطلاق کیده نن دیوه ولایت نوم دی او په یو بل مملکت بوری تړلی دی.

څنګه چه دخوکالو پخوا هندوستان نن دپاکستان او هندوستان په نامه وېشل شویدی دزړي زمانی هغه لوی خراسان هم نن په څو مملکتو وېشلی شوی دی او نوم ئی یوازي داوسنی ایران په یوه ملحق ولایت کښی ژوندی پاته دی.

مونږ اوس ددی وخت خراسان ته افغانستان نه وایو او خراسانی دافغانستانی په نامه نه یاد وو تر ر ونه پوری تا ګورا وعلامه اقبال دواړه دپاکستان اوهندوستان داولس ادبی رجال ؤ مګر نن دپاکستان خلق تا ګور خپل شاعر نه ګڼی اوله علامه اقبال سره ئي نه برابروی.

دا خبره به همد علته پر ېږدو او دابه ووایو چه خراسان له ابتداء نه تر انتهاء پوري په تولو قرنونو کښی دیوه دولت او یوه مملکت په حیث نه دی پاته شوی.

په دغه تاریخی اوزاره خراسان کښی کله دوه دري داخلی حکومتونه جوړ شویدی چه په یوه مرکز نه غونډېدل، کله به پر دو دولتونو یوه برخه او بله برخه ونیوله او تو تي تو تي به شو بل وخت به یو یا دوه نور هپوادونه ورسره یوځای شوه او او به بردی یا خپله امپراطوری به جوړه شوه او بل شکل و صورت ته ئي پیدا کړ د دغسي مختلفو او مخالفو اوضاعو او احوالو په وجه زمونږ تاریخ له یوه او بل سره داسي ګډ شوی چه اوس دخپل او پردی فرق ډیر زیات بصیرت ته اړدی او هول په یوه شان نشو پوهېدلی چه په چا باندي څومره افتخار و کړو او چا ته سکه یا ناسکه ووایو.

که مونږ نادر شاه افشاریدی لحاظ افغانستانی و ګڼو چه دخراسان دی او خراسان دافغانستان پخوانی نوم دی چه یو وخت ابیورد او نیشاپور هم پکښی داخل و نو بیا هغه کسان چه له ماوراء النهر څخه راغلی دی او په خراسان (افغانستان) ئي حکومت کړیدی یا د

ونه گڼو او ملي حکومتونه ورته
ووايو او نه احمد شاه بابا له
نادرشاه افشار څخه زيات اوښه
وگڼو.
په دغه حساب که چنگيز خپل
نکړی شو چغتائيان خو خپلولی
شو او له تيمور او بابر سره نزدی
علاقه پيدا کوو.
زه پخپله په دغه مورد کښی
متر ددیم چه تاريخی اصول به
په دغه باب کښی څه وی او دغسی
خلقو ته مونږ په څه نظر کتلی شو
په خراسان کښی خو يو وخت
سمرقند او بخارا او طوس
او نيشاپور، کرمان و ځينی
نور ځايونه هم شامل و او ترسند
او پنجاب پوری خراسان بلل
کېده په دغه لويه او پراخه سيمه
کښی به ډېر ځله دوه دری
حکومتونه او دولتونه تاسيس
شوه که دغه ټول مونږ يو شان
خپل وگڼونو خراسان به هم لکه
آسيا يا اروپا يو داسی مفهوم
پيدا کړی چه دنن ورځی په
اصطلاح به دوطنيت له چوکاټه
وتلی وی او څو دولته به يکښی
ملی حکومتونه وگڼل شی يعنی
خراسانيان به هم لکه آريايان
داسی وی چه په يوه مملکت پوری

به ارتباط نلری.
داخبره به هم په همدغه ځای
بی فيصلی پرېږدم او خراسان
ته به دڅو قرنو په هنداره کښی
وگورو چه ددغه نامه له اغازه
ترانجامه زمونږ په گران وطن
څه تېر شوی او څه حال ئی درلود؟
ددی سوال په جواب کښی زمونږ
مورخين او دتاريخ کتابونه
دا معلومات راکوی:
په (۱ ميلادی قرن کښی)
چه د اسلام ظهور ته نزدی وخت دی
دافغانستان فتلی امپراطوری
سقوط کوی او د فارس
د ساسانيانو، دماوراء النهر
د ترکانو وريسی د چين
دامپراطوری سلطه دافغانستان
په شمال شرق شمالی صفحاتو
او شمال مغرب کښی خپرېږی،
دافغانستان په نورو برخو کښی
ملوك الطوايفی پيدا کېږی له
دغی سياسی تجزيې سره دژبو
او اديانو اختلاف هم ملگری
کېږی او افغانی ملت ديوه قرن
په موده کښی دتشتت او تفرقی
خواته بيائی په همدغه وخت
کښی چه دفارس ساسانی دولت
دافغانستان څه برخه نيسی

دخراسان نوم پيدا کېږی او طوس
نيشاپور له ځينو نورو ځايو سره
په دغه نامه بلل کېږی چه دشرقی
معنی لری او ساسانيان ئی دخپل
دولت شرقی خوا بولی يعنی دا
نوم دپردو تسلط لرونکو له خوا
اېښودل کېږی کله چه دعربو
لښکر دفارس ساسانی دولت ته
ماتی ورکوی او کرمان ته راځی
نو دخراسان نوم اوری او پس له
هغه ئی په کتابونو کښی ليکی
دغه وخت دعربو او افغانانو
جنگونه شروع کېږی او تر
۱۲۹ هجری پوری دوام کوی
چه نه عرب ټول افغانستان نيولی
شی او نه افغانان دخپل وطن
ځينی برخی له عربو نه بېرته
اخستلی شی دا ځکه چه ملی قواء
متشتت دی او په ولايا تو کښی
ملوك الطوايفی ده چه ټول په يوه
مرکز نه راغونډېږی وروسته
تردې ابو مسلم خراسانی په
افغانستان کښی يو ملی حکومت
جوړوی مگر د منصور عباسی
خليفه له لاسه ډېر ژر وژل کېږی
او له مينځه ځی.
په ۲۰۶ ه کښی طاهر هراتی
له تخارستان نه ترسيستانه پوری

یو ملی حکومت تاسیسوی او طاهریه
کورنۍ څه موده په تخارستان
بلخ، میمنه، مرو، هرات، نیشاپور
کرمان او سیستان حکومت کوی
او دافغانستان نورې برخې
ددغه حکومت له نفوذ نه بهر
پاته کېږی چه هلته ملوك الطوایفی
باقی ده، په ۲۵۳ ه کښې چه
دطاهریانو حکومت له منځه ځی
یعقوب بن لیث صفاری خپل
سلطنت اعلامولی او کوشش کوی
چه ملوك الطوایفی
ورکه کړی.

صفاری دولت موفق کېږی
چه دننه مملکت کښې سیستان
زابلستان، کابلستان، تخارستان
بلخ، نیشاپور، کرمان پخپل
حکومت کښې راولی او دفارس
ولایتونه طبرستان آمل، خوزستان
هم دخپل دولت جزء وګرزوی

دغه دولت چه توفیق مومی
دګردیز، کابل، بلخ، او بدخشان
محلی حاکمان مغلوب او دځان
تابع کړی مګر همدغه وخت هم
دافغانستان په شمال کښې دبلخ
دسامانی کورنۍ یو بل قوی
ملی حکومت هم وجود لری
او دبغداد خلیفه په دیلو ماسی
وسایلو دادوه حکومتونه په جګړه
اخته کوی چه په نتیجه کښې
صفاری دولت له مینځه ځی.

سامانی دولت تر ۳۸۹ دوام
کوی او ۱۲۸ کله په تول شمالی
اوغربی افغانستان، په ماوراء النهر
او دفارس په ځینو برخو
(جرجان طبرستان، ری)
حکمرانی لری مګر سره له دې
په تول افغانستان کښې دیوې
اداری په قایمولو نه بریالی
کېږی او دمملکت په شرقی
ولایاتو کښې مختلف ادیان او
متعدد محلی حکومتونه موجود
دی.

دسامانی کورنۍ امیر اسمعیل
چه په ۲۷۹ ه کښې دماوراء النهر
پادشاه شو په ۲۸۷ کښې ئې
عمر لیث صفاری ته شکست ورکړ
او افغانی دولت ئې دماوراء النهر
له دولت سره یوځای کړ، بیائې
په فارس حمله ورو په طبرستان
اوری ئې هم ونیول دسامانیانو
دوره لانه وه ختمه چه په غزنی
کښې یو محلی حکومت جوړ شو
او دغزنوی سلطنت اساس
کېښودل شو.

غزنویان: الپتکین دسامانی
دولت یو مامور چه دسپه سالارۍ
مرتبې او دشمالی افغانستان
حکومت ته ورسېده، نو بیائې
دسامانی پادشاه له اول منصور
سره اختلاف پیدا شو او
دخراسان دحکومت مرکزئې
پریښود غزنی ته راغی په غزنی
کښې ئې محلی حکومت جوړ کړ
او بیا ده خلف او زوم دغه
محلی حکومت ته وسعت ورکړ
او کابل ئې هم ورسره ګډ کړ
یعنی د کابل محلی حکومت ئې
له مینځه وړو او په غزنی
پورې ئې وتاړه، پدی هم قانع
نشو او دسند ترسواحلو ئې خپل
حکومت پراخ کړ، یعنی دغه
وخت هم غزنی کابل ترسنده
پورې دخراسان له اداری وتلی ؤ.

مشهور سلطان محمود
د سبکتکین ځوی چه دغزنی
په تخت کښېناست ده وکړی شو
چه د دین او اداری دواړو په
لحاظ افغانستان متحد کړی
او دافغانستان محلی حاکمان
چه له څو فرنو راهیسی قبل
الاسلام او بعد الاسلام په پره
خوا کښې موجود وله مینځه
یوسي لکه د ګوزګانان

دتاجکستان په‌مرکز ستالین آباد کښې دافغانی کلتورنی هیئت داستقبال یوه منظره

او شبرغان) حاکمان، دسیستان
ال صفار (امیر خلف) دبلوچستان
ال سهراب، د غورال شنسب،
دغرجستان (میمنې) شاران،
د گردیز امراء، دپیښور بومی
حاکمان، پخوانی
خوارزمشاهیان، دسند
او ملتان لودی امیران.

نوسلطان محمود دافغانستان
داسلامی دورې لومړی پادشاه
دی چه ورو سته د افغانستان
دیفتالی دولت (٦ میلادی قرن)
څخه ئې په (٤ هجری قرن کښې)
دخراسان تول مملکت له
جیحون اوخوارزم نه تر عمانه
اوله سندنه تر کرپرلوت پورې
له خپلې اداري لاندې
راووست، اوبیائې دخپلوعسکری
سوقیاتو په واسطه خپل فتوحات
شمال خوا ته له جیحون نه هغه
خوا او دغرب لورته دفارس ترقلب
پورې اوشرق خوا ته دستلج
تر روده ورسول.

غزنوی شهنشاهی چه له
٤ هجری قرن څخه وروسته ضعیفه
کېږی مملکت بیا خپل قوت
او وحدت له لاسه ورکوی او
دسلجوقیانو حملې شروع کېږی.

سلجوقیان: دغربی ترکانو یوه
دسته وه چه دسیحون په شمال
کښې اوسېدل یوتن له دوی څخه
(دقاق) نومېده چه له خپلی
قبیلی سره دسامانیانو په سلطنت
کښې ماوراء النهر ته راغی او
داسلام دین ئې قبول کړ.

سلجوق ددقاق لخوی څلور
زامن درلوده اسرائیل، میکائیل،
موسی، یونس. سلطان محمود
دیره سهوه وکړه چه اسرائیل ئې
بندی کړاوڅه نورئې دافغانستان
په شمال کښې مقیم کړل.

سلطان مسعود د سلطان
محمود لخوی په هغه جنگ کښې
چه له طغرل اوچغرل دمیکائیل
زامنو سره ئې وکړ مغلوب شواو
دافغانستان شمالی ولایات لکه
بلخ، مرو، نیشاپور ئې له لاسه
ووتل او طغرل په ٤٢٩ کښې
نیشاپور کښې خپل سلطنت
اعلام کړ اوبیا ئې فارس او
اصفهان ونیول او خپل پایتخت
ئې ورنقل کړ.

دی چه مړ شو دده لخوی الپ
ارسلان او بیا ملکشاه پادشاه شو
ملکشاه خپل ورور سنجر
د (خراسان) نایب الحکومه
مقرر کړ او هغه په ٤٩٨ هـ کښې
د مفتوحه افغانستان استقلال
اعلان کړ او بیائې په ٥٢٦ کښې
ماوراء النهرو پورې ملحق کړ
سنجر خپل لښکر غزنی ته سوق کړ
او بهرامشاه غزنوی ئې مغلوب کړ
بیا ئې د افغانستان له غوری
پادشاه علاؤالدین حسین سره
جگړه شروع کړه او هغه ئې هم
دخان تابع کړ.

کله چه سنجر دغز دترکانو
له لاسه مغلوب شو نو په افغانستان
کښې دوه نور دولتونه موجود ؤ
چه دغز دترکانو مخه ئې ونیوله
چه هغه په شمال کښې
خوارزمشاهیان وو او په مرکز
کښې غوریان.

غوریان: دغور ولایت پخوا له
اسلامه بومحلی حکومت چه
سوری کورنۍ اداره کاوه،
ددی کورنۍ اخلافو په لومړی
هجری قرن کښې دعرب وله
اسلامی خلافت سره دوستانه
روابط قایم کړه او داسلام دین
ئې ومانه.

دامحلی اسلامی حکومت
ترڅلورم هجری قرنه محلی
پاته شو.

پخوا له اسلامه ددی کورنۍ مشاهیر بسطام او شماخ ؤ، چه فردوسی طوسی یاد کړیدی.

په اسلامی دوره کښې امیر فولاد، امیر بنجی، امیر سوری بن محمد ددغی کورنۍ مشهور کسان دی.

ددی کورنۍ یوتن سلطان علاؤالدین حسین په اخره کښې دغزنوی شهنشاهۍ په ضد راپاڅیده او دغه دولت ئې منقرض کړ.

ده لومړی ځل په افغانستان کښې دغوری دولت اعلان وکړ، دا دولت ډېرژر له خوارزمشاهی دولت سره چه دافغانستان شمالی صفحات ئې په لاس کښې ؤ په جګړه اخته شو او وروسته له خونړیو جګړو ویدی موفق شو چه شمالی ولایات په ځان پورې ملحق کړی.

سلطان غیاث الدین او شهاب الدین غوری دهند لویه برخه هم لاندی کړه او دیلی ئې د افغانی حکومت مرکز وګرزاوه چه له ۶۰۲ څخه دلسم هجری قرن تر اخره افغانی پادشاهانو دغور دموالیو په ډول په هندوستان حکومت کاوه. سلطان شهاب الدین غوری چه مړ شو، دده په اخلافو کښې څه کفایت نه ؤ او میدان دخوارزمشاهیانو دپاره تش پاته شو، هندوستان دغوری افسرانو له قیادت لاندې له افغانستان څخه جدا شو او په افغانستان کښې ملوك الطوایفی شروع شوه.

خوارزمشاهیان: دغرجستان (میمنی) یوتن انوشتګین غرجه دملکشاه سلجوقي له خوا دخوارزم کوتوال مقرر شو په ۴۹۱ کښې سلطان سنجر سلجوقی دانوشتګین ځوی دخوارزم په حکومت مقرر کړ وروسته نرده دده ځوی اتسز حاکم شو او په ۵۳۵ه کښې ئې داستقلال اعلان وکړ او سلجوقی حکومت ئې له مینځه یووړ، بیا علاؤالدین تکش چه ددغې کورنۍ مشهور سړی دی دسلجوقیانو دولت په خوارزم وتاړه او دده ځوی سلطان علاؤالدین محمد شرقی ترکستان، غور، فارس، اذربایجان په خوارزم پوری ملحق کړه چه بیاد مغلو سیلاب دغه دولت له مینځه وبووړاو مغل راغله.

مغول: په ۵۵۸ هجری کښې تموچن نومی هلك د آمورود په لوړه دره کښې پیدا شو چه وروسته ئې د چنګیز یعنی لوی شهنشاه لقب بیا موند. چنګیز په ۶۰۴ه کښې مړ شو او اولاده ئې د (اغتائیه) په نامه په چین کښې د (طولوني) په نامه د افغانستان په مغلستان کښې د (هلوکیا) په نامه په فارس کښې د (چغتایانو) په نامه دافغانستان په ماوراءالنهر کښې مسلط پاته شوه. چغتایانو په ماوراء النهر، کښې مرکز ونیوه او افغانستان ئې له تخارستان او بلخ نه نیولی تر کابل او زابل پوری د خپلو حکامو په وسیله اداره کاوه. په دغه وخت کښې د افغانستان د شمال مغرب ولایات د فارس په مغولی حکومت پوری مربوط او سند، کشمیر، سیستان، پاختیا، بلوچستان او ګندهارا دملوك الطوایفی شکل درلود.

دچغتایانو حکومت چه په ماوراء النهر کښې ضعیف شو نو تیمور ګرګان چه په تیمور لنګ مشهور ؤ اول ئې دکش او سمرقند ښارونه ونیول او بیائې په

ماوراءالنهر او خوارزم قبضه
وکړه. وروسته تر دې ئې په
۷۷۱ھ کښې افغانستان اوبیا
فارس ونیو اویه عراق عرب ئې
حمله وروړه پس له هغه روسیې ته
متوجه شو اومسکو ئې لوټ کړ
په ۸۰۱ ھ کښې د افغانستان
له لارې هندته ولاړ اوتر دیلی
ورسیده هلته ئې افغانی دولت
گډود کړ او په ۸۰٤ھ کښې ئې
انقرې ته مخه وکړه او
د عثمانی ترکانو دولت ته ئې
ماتې ورکړه ددغه گورگانی
ترك (تیمور) پایتخت سمرقند ؤ
اویه دغه وخت کښې سمرقند
د ډیرې لوئې امپراطورۍ
مرکز ؤ چه په ډیرو ملکونو ئې
حکمرانی چلیده. دتیمور له مرگه
وروسته دده ځوی (شهرخ) په
هرات کښې دافغانستان پادشاه شو
اویه تاریخ کښې ئې خپل ښه
خاطرات پرېښودل.

تیموری دولت په افغانستان
کښې یوقرن دوام وکړ اوبیا
د فارس د صفوی دولت او
دماوراءالنهر دشیبانی حکومت
د ظهور په وجه ورو ورو ضعیفه
کیده ترڅو چه بیخی له مینځه

ولاړ اوخپل ځای ئې په شمالی
او غربی افغانستان کښې
د غو دوو حکومتونو پرېښود
اویه شرقی افغانستان کښې دهند
دبابری حکومت سلطه وه اوملك
بیاتونی توتی دیوه اوبل په لاس
کښې و.

دلسم قرن په اوایلو کښې
محمدشیبانی چه د هلاکو له
اولادی څخه و، ماوراءالنهر ته
راغې اود گورگانی حکومت
گورنۍ ئې له پښوور غورځوله
از بکیه حکومت ئې جوړ کړ
او تر ۱۰۰۷ھ پورې ئې په
ماوراء النهر کښې حاکمت
درلود چه علاوه په خوارزم ئې
افغانی تخارستان، بلخ اوهرو
له امرلاندې و، او تر یوه قرنه پورې
دده ورانیو دوام درلود.

په همدغه وخت کښې
شیبانیانو، صفویانو او د هند
بابریه حکومت په بلخ باندې
کشمکش درلود او هرات
دصفویانو لاس ته ورغی.

دایران صفوی حکومت چه له
۹۰۷ څخه تر ۱۱۳۵ پورې دوام وکړ
دافغانستان ځینې برخې ئې لکه
نیشاپور، هرات، مرو، بلخ،

سیستان اوقندهار له خپلې
اداري لاندې راوستلې،

په لسم قرن کښې چه په
افغانستان باندې د شیبانیانو
اوصفویانو کشمکش جاری ؤ
دامیر تیمور گرگان یو نمسی
بابر نومی له فرغانې نه راپاڅیده
او په ماوراء النهر کښې ئې
سمرقند ونیوو وروسته تر دې
افغانستان ته راغی اویه کابل
کښې ئې حکومت جوړ کړ.
دی به ۹۳۲ھ کښې له افغانستان
څخه هندوستان ته ولاړ اوهلته ئې
د لودیانو افغانی حکومت ته
ماتې ورکړه اوخپل سلطنت ئې
اعلام کړ، دبابر له مرگه وروسته
د ده ځوی همایون د هند
دامپراطورۍ په تخت کښېناست
مگر شیرشاه افغان ماتې ورکړه
او فارس ته ئې په تښتېدو مجبور کړ،
همایون څه موده وروسته بیا
دهند سلطنت ونیوه اودده ځوی
اکبر جلال الدین وکړی شو چه
په هند کښې متعدد افغانی دولتونه
له مینځه یوسی اودافغانستان
په ولایاتو کښې لکه کشمیر،
گندهارا، کابلستان د هند
دبابریه حکومت سلطه خیره کړی

مگر په دغه وخت کښې افغانی
مشران هم هسې نه وناست او لکه
پیر روښان ، خوشحال خان
او نور له بابر بانو سره په جګړه
اخته وا او یوسف زو هم له مغولیه
حکومت سره ډېری جګړی
وکړی ، دپیر روښان توله کورنۍ
زامن او نمسی د آزادۍ
په لاره کښې قربان شوه مګر
دد غې ناکامۍ تلافی په قندهار
او هرات کښې افغانی سردارانو
دفارس دحکومت په مقابل کښې
وکړه او وروسته له ډېر جد و
جهد څخه په ۱۱۲۱ ه کښې افغانی
هوتکی دولت جوړ شو چه تر
۱۱۵۱ ه پورې ئې دوام وکړ
او څه موده ایرانی سلطنت هم
ور سره ضم شو .
دهوتکو د کورنۍ لومړی سړی
میرویس نیکه دی چه دافغانستان
دآزادۍ دپاره ئې ډېرې
مجادلې او مجاهدې وکړې
او علاوه په شجاعت او شهامت ئې
له عقل او تدبیر څخه هم ډېر
کار واخیست دهوتکو حکومت
وروسته دصفویانو له مغلو بولو
۳۰ کاله دوام وکړ او په اخره
کښې دهغینو داخلی عواملو
او مخالفتونو په وجه ضعیفه شو

او طهماسب صفوی دنادر شاه
افشار په وسیله چه د خپل سپه
سالار نوم ئې پرې کېښود له
افغانی حکومت سره مقابله
وکړه دغه سپه سالار (نادر افشار)
چه په ابیورد کښې پیدا شوی و
او خراسانی بلل کېده لومړی
ځل ئې نیشاپور ونیوه او بیائې په
ملک محمود سیستانی حمله
وروړه او دطهماسب ټول ولایت ئې
لاندې کړ وروسته تر دې ئې
په مشهد استیلاء وکړه او په
همدغه وخت کښې ئې سپه سالارۍ
وکړله او شاه اشرف ئې افغانستان
نه په ترشا کېښو مجبور کړ ،
نادر افشار چه زیات قوت وموند
نو طهماسب صفوی ئې خلع کړ
او دهغه دځوی (عباس) په نامه ئې
کار ونه یخپل لاس کښې ونیول
او بیائې څه موده وروسته په
۱۱۴۲ کښې رسماً ځان دفارس
پادشاه اعلام کړ چه پس له هغه ئې
اول هرات او بیا قندهار دمګرو
جنګونو په اثر ونیول او دقندهار
ښارئې وران کړ . کله چه نادر شاه
افشار مړ شو نو په قندهار کښې
احمد شاه بابا داولس په خوښه
پادشاه شو او بیا په افغانستان

کښې یو قوی ملی افغانی حکومت
قایم شو چه تر اوسه پورې افغان
ملت دغه حکومت په ډېر وقربانیو
او فداکارۍ بو دخارجی دښمنانو
په مقابل کښې ساتلی دی .
سره له دې چه کله کله ډېرې
بدبختۍ پدې هېواد راغلی دی
او په موقتی ډول ئې زمونږ
استقلال او خپلواکۍ ته زیان
رسولی دی بیا هم د افغان
او افغانستان نامونشان محفوظ
پاته دی او پردی حکومت بیا
دلته نه دی قایم شوی .
دافغانستان نوم چه زمونږ
دمؤرخینو دتحقیقاتو په اساس
په ۱۲ ه قرن کښې پیدا شوی
او دخراسان ځای ئې نیولی دی
د میرویس نیکه او هوتکی
پادشاهانو له وخت سره تصادف
کوی او همدغه دهوتکو ابدالیانو
او درانو دنزدې ۳ قرنو پادشاهۍ
دغه نوم په مملکت باندې ایښی
او دافغانستان ټول اولس ته ئې
دافغانی ملت حیثیت او شخصیت
بخښلی دی .
که مونږ دافغانستان دډېرو
قرنونو تاریخ و ګورونو په یوزر
او څو سوه کالو کښې کوم
حکومت چه دمملکت دخاورې

د مسکو د مسجد امام د خطبې په حال کښې

تمامیت اوملی وحدت ئی نسبتاً
زیات ساتلی دی هغه دهمد غو۳
روستیو قرنو افغانی حکومت دی چه
د لږ ې لږې مودې دپاره پکښې
یو څه زیان اوخلل پیدا شوی
مگر دغه وقفې اوسکتې بیاهم داسی
تجزیه اوانحلال نه بلل کیږی
لکه چه په تېرو قرنونو کښی ئې
وینو .

په تېر پیړیو کښی که څه هم ځینی
حکومتونه دیوی لویې امپراطوری
دجوړولو او ډېرو ملکونو دلاندی
کولو په وجه د درې روستیو
قرنوله حکومتونه زیاتوالی
لری مگر د زمان په لحاظ ئې
اهمیت لږ دی او دغو مره عمر
نلری .

مثلا دغزنویانو دوره دسلطان
محمود په وخت کښې
د افغانستان لویه شهنشاهی ده
چه خپل قلمرو ئې ډېر وسیع کړی
او ډېر فتوحات ئې په برخه شیدی
مگر دغه مزیت په کامل ډول
یوازې دسلطان محمود په وخت
پوری اختصاص لری او دغزنوی
حکومت اول وا خر دغه راز
نه دې .

بله داچه غزنویان له بل ځایه
راغلی و او د افغانستان اصلی
اوسېدونکی نه و، په دغه لحاظ
دافغانستان ځینی نور حکومتونه
د افغانستان دپاره ډېر سکنې
اوزیات خپل گڼلی شو نو په دغه
وجه کله چه غوریان له غزنویانو
سره مقابله کوی دانه ښائی چه
ووا یو غوریانو د غزنویانو په
مقابل کښې عصیان و کړ لکه
چه زمونږ په یوه کتاب کښی
همدغسی لیکلی دی او دغه خصوصیت
ته نه دی کتل شوی چه غوریان
د افغانستان اصلی او معلوم
اوسیدونکی دی مگر غزنویان
دغه راز نه دی او اصل ئې هم ښه
نه معلومېږی . همدارنگه
سلجوقیان، شیبانیان، چغتایان
تیموریان، بابریان په ملی لحاظ خپل
نه شو گڼلی او شهرخ یا بابر که
هرڅومره ښه شی بیاهم افغانی
الاصل ورته نشو ویلی .

په دغو تاریخی دورو کښې
ابومسلم خراسانی یا طاهر هراتی
او د دوی امثال زمونږ خپل
خلق دی او ددوی حکومت ته
خپل حکومت بی شك او شبهی
ویلی شو مگر له دوی سره هم زمان
او مکان دا مساعدت نه کوی
چه له وطن نه ملوك الطوایفی
ورکه کړی او ټول افغانستان
په یوه مرکز راغونډ او متحد کړی.

همدغه شان صفاری حکومت
او سامانی حکومت د خراسان
خپل حکومتونه دی مگر په دی
وجه چه دواړه په یوه وخت او یوه
وطن کښې یو له بل سره په جگړه
اخته دی طبعاً خراسان په دوه
دولتونو ویشی او تجزیه ور سره
تړلی ده .

دغه راز ټول ملاحظات چه په
نظر کښې ونیسو او په هر قرن کښې
دخراسان اوضاع او احوال ښه
و گورونو له میرویس نیکه
نه وروسته تر دی وخته
دافغانستان تمامیت اوملی وحدت
په یوه دوام داره موده کښې
له نورو وختونو نه ښه ساتل
شویدی یعنی له هغه وخته چه په
خراسان د افغانستان نوم
ایښودل شوی زمونږ اتفاق او
اتحاد پوخ شوی او ټینگ شویدی
که څه هم په دغه موده کښې
په یوه کورنۍ کښې سکه ورونه
یو د بل مخالف شوی او دغه
مخالفتونه دیر دو دموقتی تسلط
سبب شویدی بیا هم له تېرو

وختو نو نه په عمومي لحاظ وضعيت
ډېر ښه معلومېږي او په هغه
اندازه تشتت نه ليدل کېږي
مخصوصاً د امير عبدالرحمي خان
له وخته را پدي خوا چه
د افغانستان نوم ښه قوت موندلی
او د وطن هر فرد ور سره ټينګه
مينه او روحي علاقه پيدا کړيده.

زما په فکر دهر مملکت نوم
چه په تيرو زمانو کښې د جغرافيوي
حدود او خاوري په لحاظ
ايښودل شويدي هلته ملي وحدت
ښه نه دي ټينګ شوي لکه
چه هېواد و نه تل ديوه اوبل له حملو
لاندي و او په جغرافيوي حدودو
کښې هر کله تغير او تبديل
پېښيده نو په دغه سبب خپل پردي
کېدل او پر دي خپلېدل مګر
چېرته چه د مملکت نوم له ملت
څخه را پيدا شويدي د هغوي
وحدت د دغسې تغير او تبديل
له تاثيراتو ساتلي دي او خپل
نه دي پردي شوي زما په عقيده
له وطنيت نه د ملت مفهوم ډېر
قوي او با دوامه دي او د وطن
مينه د ملت د مينې په رڼا کښې
ساتل کېږي، مثلا که يهوديان
د يهوديت په نامه ژوندي نه وای
او فلسطينيان ورنه وېل کېدلی
نو کله چه فلسطين د نورو شوي
وای او ددي په يوه هيواد اوبل
کښې څو قرنه اوسېدلي وای
نو به دغه ملت په نور و کښې حل
شوي و په اخره کښې وايم چه
د افغانستان نوم هم د غو مره
اوستني نه دي چه يوازي دولسم
هجري قرن ته ئې نسبت و کړو
اووايو چه دا نوم پخوا تردي
دلته نه و لکه چه رشيدالدين
فضل الله د سلطان الجايتو وزير
پخپل کتاب جامع التواريخ
رشيدي کښې (چه په ۷۰۵ هـ
کښې ئې ليکلي دي) د افغانستان
نوم ياد کړيدي. همدار نګه
ګو د تيمور پخپل تزک کښې
داتمي پيرې د روستيو کلو نو
په پېښو کښې د افغانستان نوم
اخستي دي.

په تاريخ سيفي کښې هم
د افغانستان نوم د ۷ هجري قرن
په شا و خوا کښې را غلی
او عبد اللطيف عباسي د لسم
او يوولسم هجري قرن تر منځ
د مثنوي په مقدمه کښې ليکي
چه ما د افغانستان د تيرا
داهن پوشان په قريه کښې دغه
ليك ته خاتمه ور کړه.

نو د اخبره چه د افغانستان
نوم په ۱۲ هجري کښې پيدا شو
صحيح نه ده او ويلی شو چه په
۷۰۵ هـ کښې تاريخ ثبت کړيدی
او څوك چه يو نوم پخپل کتاب
کښې ليکي هغه ارومرو په خلقو
کښې شهرت لري او د پيدا کېدو
نېټه ئې ضرور د مخه وي.

د افغانستان له نامه نه چه
تېرشو او د افغان کلمه په نظر
کښې و نيسو نو ويلی شو چه د ادوهم
نوم چه دلومړي نامه اساس
او بنياد دي له ډېر پخوا وخته
موجود وچه (حدود العالم) هم
ضبط کړيدي او د ليکلو عمر ئې
څلورم هجري قرن ته رسېږي.

دښاغلی غلام سرور رحیمی لیکنه او تتبع

د غرب تمدن
جغرافیائی کشفیات

منځنۍ پیړۍ :

پسله «۱۵» قرنه څخه اروپا توسعه پیدا کړه . داروپا نفوس ډېر شول . ملی اتحاد په بعض مملکتو کښې روی کارشو او اروپائیان په نوی طرز دژوند سره اشنا شول. دعلم سویه لوړه ولاړه. کتابونه نشرشول او زړو علومو ته توجه و شوله هغه مطالعه شول . تجار و اهمیت پیدا کړاویه اروپا کښې یونوی ژوند اونوی روح پیداشو .

جغرافیائی کشفیاتو دوه علله درلوده اول بعضی اروپائی مملکتو لکه پرتګال او هسپانیی اراده درلوده چه نوی بحری لاری کشف کړی دوهم بعض مملکتو غوښتل چه خپل تجارت مستقیماً دشرق سره قائم کړی او وینس دتجارت انحصار خصوصاً چه مسالی ئې انحصار کړی وی هغه ورمات کړی . نو دی مملکتو ارزو درلوده چه نوی نوی ځایونه چه په هغه کښې مسالی پیدا کیږی کشف کړی. دقطب نما او استرلاب اختراع چه په دی قرن کښې شوی وه اود بحری سفر و سره ئې کومك کاوه اوزده بحری سفرو نه ئی ممکن او آسانه کړی وو .

په جغرافیائی کشفیاتو کښې پرتګالیان پیش قدمه دی او دجهاز سازی په صناعت کښې ئی ښه لاس درلود. عصری کشفیات دشهزاده هنری دفعالیت په اثرشروع شوی او دی د تاریخ په حیث ددریانورد شهرت لری .

هنری دا ارزو درلوده چه دشمالی افریقا ځینی برخی کشف کړی او په دی وسیله د مسلمانانو قوی نفوذ ته په افریقا کښې خاتمه ورکړی . نوئی بوځو جهازونه هم ددغه مقصد دپاره افریقا ته ولیږل. دی کشافانو ډېر معلومات دافریقا په باره کښې راوړه او هنری ئې تشویق کړ چه و کشفیاتو ته ادامه ورکړی .

دهنری متعاقبینو هم دهنری پلان تعقیب کړ. په لنډ ډول جغرافیائی کشفیات په دی لاندی ډول سره وشول .

اول- دیز- د پرتګال تبعه په ۱۴۸۸ کښې ودماغهٔ امیدته ورسید او هندوستان ته د رسیدلو امید د اوبو له لاری څخه پیدا شو .

دوم کولمبس دجینوا تبعه دهسپانیی دپاره کشفیات شروع کړه او په ۱۴۹۲ کښې دغرب الهند وجزیروته ورورسید . کیوبا او هیاتی جزیری ئی کشف کړلې . کولمبس

آرزو در لوده چه هندوستان ته د او بولار کشف کړی اما ونه پوهید چه یو نوی بر اعظم یعنی امریکائی کشف کړی ده .

دریم—واسکود گاما دپورتگال تبعه‌په ۱۴۹۸ کښی‌دهندوستان بحری‌لار کشف کړ ل.

څلورم ـ کیبوت دوینس تبعه د انگلستان د پاره کشفیات شروع کړ ل تر آ یسلینند اوسواحلو پوری‌ئی دنیوفوندلینند اولبرا دور پوری کشفیات و کړل .

پنځم— په۱۵۰۰ کښی گاسپر او کورت دپرتگال‌تبعه تر گرین‌لینند پوری ور سیدل ،

شپږم— هسپا نوی پترون خیلو کشفیا تو ته پر شمال شرقی سواحلو باندی د جنو بی افریقا له خوا دوام ور کړ .

اوم ـ په ۱۵۰۰ کښی گیبرال پورتگالی برازیل ته ورسید حال دا چه دده اراده د اوه‌چه هندوستان‌ته سفر و کړی .

اتم ـ په ۱۵۱۳ کښی هسپانوی لیون فلور یدا کشف کړه چه د اوسنی اتا ز ونی یوایالت دی .

نهم ـ په ۱۵۱۳ کښی هسپانوی بالبوای په بحرالکاهل کښی کشف کړه .

لسم ـ په۱۵۱٤ کښی پرتگالیان داوبو دلاری څخه چین‌ته ورسیدل .

یوه‌لسم— کورتس هسپانوی مکسیکو کشف کړه .

دولسم— په ۱۵۲۳ کښی شمالی او جنوبی امریکا کشف شوه گواکی یوه نوی د نیا کشف شوله .

په‌جغرافیائی کشفیاتو کښی‌څنگه چه پورته معلومه‌شوله پرتگال او هسپانیی رقابت درلوده بالاخره شمالی اوجنوبی امریکا هسپا نیه ونیوله خوبرازیل ، اودافریقا سواحل دشرق‌الهند جزیری پرتگال واخیستلی .

په۱٦قرن کښی‌انگلستان، فرانسی اوهالینند هم په کشفیاتو شروع و کړه او هم ئې خپل‌تجارت وهسپانیی اوپرتگال سره‌قائم کړ. هسپانیی‌اوپرتگال‌دمسالوتجارت شروع کړ او دمسلمانا نو تجارتی نفوذ ته ئې په اروپا کښی کرار کرار خاتمه‌ور کړه . دبرطانیی فرانسی اوهالینند خلکو خپل‌مهاجرت دتجارتی کمپنیو په‌واسطه‌وامریکاته شروع کړ. اوپسله یوې‌مدی څخه‌ئی دهسپانیی‌نفوذته هلته‌خاتمه ور کړه اودبرطانیی مستعمره تشکیل شوه. یوه‌ډیره اندازه طلااوسپین‌زردامریکا څخه‌هسپانیی یووړه‌چه په دی‌واسطه‌دهسپانیی خلک‌غنی ،متمول اوعیاش شوه صنائعوته‌ئی ترقی‌ورنه کړه . اقتصادی فعالیت‌ئې پریښود اوتراوسه هغه‌مملکت نسبت ونوروارویائې مملکتوته بیرته‌پاته دی. برطانیه‌اوهالینند چه طلا اوسپین زرئی نه‌درلود نوئې‌خپل صادرات هسپانیی‌ته‌ډیر کړه چه‌په دی سبب ئی هم ملی صنائعوته ترقی ور کړه

دلیننګراد د مسجد امام د خطبې به حال کښې

اوهم ئې طلا اوسپین زر دهسپانیې څخه راوړل .

دجغرافیائی کشفیاتو تاثیرات :

دجغرافیائی کشفیاتو لمړی تاثیر داوه چه د کشفیاتو په سبب تجارتی مرکز دمدیترانی دبحیری څخه وغربی اروپاته نقل شو. لزبون دوینس په عوض داروپا تجارتی مرکز شو اوجهازونه ددی په عوض چه وینس ته مراجعه وکړی لزبون ته ئې مخ راواړاوه .

په دی وخت کښې دافریقا دتورپوستانو تجارت هم ډیر مهم دی داروپاجهازونه مخصوصاً دهسپانیې جهازونه به تورپوستانو وامریکاته وړل اوهلته به ئې خرڅول چه په زراعت اونورواموروکښې له دوی نه کار واخلی دامریکا څخه به ئې تمباکو، پوستونه، بوره، وریجې اوطلا، سپین زر اروپاته راوړل اوپه ښه بیه به ئې خرڅول دا روپا څخه به ئې توکران، مشروبات، هنداری اونور شیان افریقا ته وړل اودتورو پوستانو په عوض کښې به ئې تبادله کول .

دجغرافیائی کشفیاتو دوهم تاثیر داوه چه طلا اوسپین زر په اروپا کښې ډیر شول اوطلائی مسکوکات ډیرشول قیمتونه لوړولاړه .

سرمایه داره طبقه قوی شوله دمزدرو اجوره جګه شوه مالیات لوړ شول اوحکومتونه په اروپا کښې قوی اومقتدرشول چه ددی په نتیجه کښې اجتماعی اوضاعوهم تغیروخوړاوپوه نوی اروپاومنځ ته راووتله اودا تغیرات په اروپا کښې پیښ شول :

۱-اروپا وسعت پیدا کړ اونوی نوی ځایونه کشف شول چه هغه هم داروپا مستعمرات وګڼل شول .

۲- دسرمایه داری سیستم روی کارشو. صناعت، تجارت اوزراعت په سرعت ترقی کوله اونفوس مخ پرډیر بدوو .

۳- ملوك الطوائفی ولاړه اوازاد خلك اومقتدرحکومتونه جوړ شول .

محمد یونس - خالص

دمینی سزا

د هجران سخته سیلۍ شوه * زه ئې و یوړمه صحراته
هلته هم تاو د فراق وو * چه ئې جوړ کړمه فناته
ا خوا، د یخوا هیڅوك نه ؤ * خدایه! مخ واړوم چاته
په عالم د تنهائۍ کښې * لا روان وم کومی خواته
چه ناڅاپه غورهار شو * ویره لا می شوله زیاته

نه پوهېږم چه هاتف ؤاو که رعدو کړ شور
«اباسیند دجفا راغی، خلاصیدلی نشی نور»

سم د غږ سره نسکور کړم * تورو خړو د جفا
داسی بحر کښې لاهو شوم * چه ئې نه وه انتها
پر ځیدلم، پاڅیدلم * د ساحل په تمنا
بی له خدای ځنی بل چاته * هیله نه لرله ما
کله چاته رسیدلی * زما چیغی، واویلا

وړاندی وروسته وار خطامی لاس وپښی سره وهلې
د نجات په هیله هیله غزونې مې کولې

په داهسی حال خراب کښې راته پیښه شوه لا، بله
د هجران په لمبو سوی یوه را غلله بلبله
«وی، چه: ولی وار خطائی؟ دیار مینه کښې تنبله»
«په یارۍ کښې زړه سندان کا دقت وباسه له دله»
«مونږ په یو ګل پسی درو مو له پنجا به تر کابله»

«چه دزړه په وینو سره کړو هره پاڼه د ګلاب»
بیانو هله ګوتوی شود وصال یو ګوټ شراب»

«په چهان کښې څو د مینی وی غمونه ثازه، ثازه»
«چاسره غم د رقیب وی چه خبر نشی له رازه»
څوك وهری خواته څاری چه ویر یږی له غمازه»
«څوك پراته په زنکدن وی دسوسن غوندی خوله وازه» *

ښاغلی الفت صاحب!

مونږ دمسکو دشرقشناسی دپوهنځی غړی دوروستی لېدنی کتنی دپاره ستاسو هوټل ته راغلی وو اوتقریباً یونیم ساعت منتظروو تاسو تشریف رانه وو ړکه څه هم متأسفانه ستاسو لیدلو موفق نشو ومگر زړونه موله تاسو سره دی. څو کتابونه دانستیتوت دمدیر ښاغلی غفور وف له خواستاسو حضور ته وړاندی شول. دیوه صمیمی ملگری دهدیې یه حیث ئی ومنی اوپه دې ډول ستاسو سره دخدای په امانی کوو.. ستاسو دورو لی دمکاتبې انتظار باسو زمونږ پته داده: سوروی اتحاد ـ مسکو ـ مرکز ـ ارمیانسکی پېرېولوك ـ دوهم لمبر عمارت د شرقشناسی پوهنځی دافغانستان څانگه USSR. Moscow. Centre: Armiansky Pereusky Pereulok 2 Institut Wostokowed - enja Akademiy Nank Sektor Afghanistan.

دالیك دانحاد شوروی ددوو تنو دپښتو پوهانو ښاغلی ر:ت اخرامو ویچ او ښاغلی آ'د' داؤدف داملاء اوانشاء نمونه ده.

---

* «داسی چاری شته په عشق کښی — شه خبر له ساز و باز ه»

«ته لااوس هم اسوده ئی چه په سیند کښی دجفا

لاس وپښی شی ښور ولی' ئی یه طمعه دوفا»

دا بلبله شو ه روانه — پسی گډ شو نوی شور

دجفا خونړی سیند کښی — را پیدا شو لړم تور

ځلیده ئی په الېشه کښی — دوزخی شانته بل اور

لړم څه وو' نمونه وه — دا شنا د ظلم و زور

له داهسی زند گۍ خو — په سل واره ښه دی گور

ماوی: زلفی خوماران وی دالړم نوڅه بلا ده؟

یوله غیبه اوازراغی چه دمینی دا سزاده

فتواء

رښتيا رښتيا به وايو تېرايستل نه دی روا
پښتون ته دپښتونه تېرېدل نه دی روا

چه دارته حتی نه شی اوپه ځان ئی زړه خوږېږی
ناري دا نا الحق ورته کول نه دی روا

دلو بو او د فکر او عمل ځايو نه بېل دی
د قام په سرنوشت لوبی کول نه دی روا

دنيا کښی آرادی ده خوپه هېڅ دين وآئين کښی
انسان ته دانسان سر تېټېدل نه دی روا

پيسې چه نه شی سر نه، سر ناموسه ځنی ځار
د سر او د پيسو خوشی ساتل نه دی روا

رشوت پسی روان که په رشوت باندې قاضی شو
هغه لره «قاضی صاحب» ويل نه دی روا

دګټی اوتاوان بازار ته ځير شه سودا ګره!
ايمان خو په ليلام کښې خرڅول نه دی روا

چه مست اونيشه ګرځی اوبېوزلو پورې خاندی
په هېڅ شان د هغو سره خندل نه دی روا

په روح دمحبت چه زندګی ئی نه وی تېره
پر قبر د هغه مړی ژړل نه دی روا

ډاکټر ويل شرابو کښې شفا د کم خونۍ ده
ماووې دغريبو وينې څښل نه دی روا

ګناهو ته ګناه ويل، چه چېرته وی ګناه
شاعره! هسی ځای کښی چوپېدل نه دی روا

روا او ناروا ء و کښی ملا مسئلې وکړې
زه لنډه ګنډه وايم ځورول نه دی روا

ملګری زر راوېښ کړه بختانيه په نغمو
رڼا چه اوس خوره ده ويد ېدل نه دی روا

په مسکو کښې د افغانی کلتوری هیئت غړی او د اتحاد شوروی د کلتور د وزارت د ځینې کسان

دتعصب توضیح

خر کند «ننگلامی»

ښاغلی د کابل مجلې چلوونکیه!

«دتعصب حقیقت» ترعنوان لاندې زما یومضمون په(۴۳۲) گڼه کښې خپور شوی ؤ بیا د کابل مجلې (۴۳۵) گڼې کښې دښاغلی محمد صدیق سیلانی له خوا انتقاد پرې نیول شوی دی که څه هم زما عبارات او مطالب دومره پیچیده هم نه ؤ چه دچا د اشتباه او یا انتقاد باعث شوې وای مگر څرنگه چه ددوی اشتباه زه هم په اشتباه کښې واچولم چه شاید زما مضمون به ښه توضیح شوې نه وی یا به دوې پرې ښه نه وی رسیدلی خولپاره ددې چه دتعصب په باب زما مرام ښه افاده شی او له بلې خوا دسیلانی صاحب مضمون هم بی ځوابه پاتې نشی نو دا دی خپل توضیحات د کابل مجلې پذریعه ښاغلی سیلانی او نورو لیکوالو ته بیاوړاندې کوم «ننگلامی».

یخواتردې چه مطلب توضیح شی غواړم چه دسیلانی صاحب د انتقاد ځینې نکات چه لږ شانته عجیب بریښی تماس ورسره وکړم.

ښاغلی سیلانی لیکی چه: «زه دننگلامی دغه نظریه نشم منلای چه (مونږ چه چاته متعصب وایو په حقیقت کښې پخپله تعصب لرونوځکه بل ته دتعصب نسبت ورکول زمونږ پر تعصب لرلو دلالت کوی)..» زه وایم وزور که لمړی خوزما او ستا اختلاف پدې کښې دی چه زه تعصب ته په ډولونو قائل یم او سپیڅلی تعصب خوښوم مگر ته پرته دبد بینۍ څخه تعصب ته په بله هیڅ معنی نه ئې قایل ابله دا که تاسو ملتفت شی هغه حس چه ته ئې زما پر مقالې تنقید کولو ته مجبور کړی ئې همداشی زه تعصب بولم او پر تعصبو بنا یا په بل عبارت ستا د انتقاد د حس بانی او موجد همدا تعصب دی دتعصب معنا زما په نزد دخپلې مفکورې څخه دفاع یا پخپله مفکوره ټینگار کول یا پخپله رایه دریدل دی یو الحې معقولیت شرط نه دی ځکه ډیرد اسې ادیان یا مذاهب دنړۍ په مخ شته چه په معقولیت بنا نه دی مگر په ملیونو ملیونو پیروان لری که زه وته پخپلو کښې سره فکرو کړو همداشی ښه څرگند بدای شی یعنی تراوسه دا نده معلومه چه زه معقول زغیدلی یم او که ته یا په بل عبارت دتعصب په باب زما نظریات معقول دی که ستاسو خرته پخپله خبره نظریه رای ټینگار کوی او زه پخپله همدغه ټینگ تیا او ټینگار پخپله رایه یا مفکوره دتعصب نتیجه ده او زه تعصب همدغه شی ته وایم نو دلته یخواتر معقولیته پریوشی دښه یا بد حکم کول ښه کار ندی او که بیاهم سړی حکم کوی پر اقسامو

یا اجزاؤ به ئې کوی لکه چه ما سپیڅلی تعصب چه د تعصب لرلو غریزې محصول دی ښه شی بللی او بیا په تعصب کښې افراط بدبولم بل ځای سیلانی صاحب وائې: «چه د ننګلا می مقصد له طبیعی څخه څه شی دی کلتوری ثقافتی عنعنوی بیلوالی خو د مفکورو د تباین په اثر منځ ته راغلی ....» زه وایم ګرانه! د مفکورو تباین او بیلوالی د څه شی په اثر منځ ته راځی، همدا تعصب دی که بل څه؟؟ یا په بل عبارت تعصب له یو شی یا مفکوری سره د ډیری مینی او علاقې له مخې پیدا کیږی. خو زه دی نه ملامتوم ځکه ده پخپله هم ویلی دی چه چه تعصب د خپلو معلوماتو په اندازه د بیلو بیلو نګاه څخه څیړم بهرصورت بل ځای د اسلام او تعصب تر کرښې لاندی ئې هم څه لیکلی دی چه پدغه برخه کښې څه لیکل احتیاط ایجابوی او زه کوم تماس ور سره نګوم بل ځای تعصب د فکورو انسانانو په نظر کښې د ظلمانی او تورې شپی په حیث ښیی ء زوایم چه وروره! فکور یعنی څوك؟ که د دوی مرام د فکورو انسانانو څخه نوابغ او فلاسفه وی خو هغوی لا پخپلو مفکورو او ایدوو ټینګار کړی دی او که دغه ټنګار نه وای نو بیا ولی دومره بیشماره فلسفی لکه ایدیالیزم، ماتریالیزم لیننسیم، دیموکراتیسم، کمونیسم، ماکیاویلسم، لبرالیسم، سوسیالیسم، ناسیونالیسم، انترناسیونالیسم .... او نوری فلسفی منځ ته راوتلی دی چه پدغو فلسفو کښې افکار دومره ضد او نقیض دی چه حتی یوه فلسفه د بلې په مقابل کښې واقع شویده ان تر دې چه ځینی فلسفی خپل پیشرفت د بلې په ضد او تخریب کښې لټوی (سیاسی مکتبونه ولولیء!) نو دلته شاید دوی تیروتلی وی یا ئې اشتباه کړی وی بل ځای وائې: «د نوی تربیې علماء وائی چه. زه وایم لکه څوك لطفاً څو تنه دې وښیی ء! بله دا چه ما د مخه هم عرض وکړ چه دوی د تعصب څخه یوا ځی د بدبینۍ تعبیر کړیدی دی پخپل تعبیر حق په جانب ګڼم نو ځکه دلته هم ډیر غږ یدل وړ نه بولم بل ځای د تعصب د بین المللیت په نظر کښې وائې چه: «ډیر داسې ستر او بشر دوسته شخصیتونه موجود شویدی چه هغوی د بشریت په نامه د ګرد بشر خیر خواه دی...» زه بیا وایم چه وروره تا اشتباه کړیده تعصب د مفرط بدبینۍ په معنی ندی چه تا استدلال کړیدی داد رسته ده چه د بشر خیر او فلاح او سعادت څوك په یوه مفکوره کښې لټوی او څوك ئې په بله کښې همدا سبب دی چه ما دیو پاتریوت او ناسیونالست په حیث تعصب ښه بللی او ملی تعصب می د ملیت او قومیت یوا ځینۍ وسیله بللی او ته د بشر خیر و سعادت په محض ایډیالستۍ او خوش بینۍ کښې لټوی ځکه زه ستا خوش بینۍ ته هومره نشم خوشبین کیدلای او ستا خوشبینی یوا ځې ستا په ایډیالستۍ حملوم او بس.

اوس به‌راشم دخپلې مقالې توضیح ته، څرنګه چه د کابل مجلې په (٤٣٥) ګڼه کښې د ښاغلی محمد صدیق سیلا نی له خوا د تعصب په مقالې انتقاد شویدی نه پوهیږم چه دوی له ماسره تعصب کړیدی که د تعصب سره خود دوی د انتقا د څخه معلومیږی چه د تعصب سره ئې تعصب کړیدی زه دوی پخپل فکر هغه تحلیل چه د تعصب له کلمی نه ئې کړیدی حق پر جانب هم بولم دلته یوه خبره رایه یاد شوه وائی چه: «چاته چاوویل چه دو مره ولی عصبی کیږی هغه وویل زه کله عصبی شوی یم هغه لومړی سړی وویل چه دا دې هم عصبیت دی کنه ..!» که څه هم ښاغلی سیلا نی تعصب ډیر بد بولی مګر پخپله ئې کړیدی! یا په بل عبارت دوی تعصب د بدبینۍ سره مرادف بللی دی چه دا هم ورسره منلای شم مګر دا نشم منلای چه تعصب یوا لحې همدغه معنی ولری او بس بلکه د تعصب څخه مو نږ ډیر مفهو مونه (دنیک او بد) په دواړو کښې اخلو چه ډیر اقسام لری او عرفاً وا صطلا حاً هم پدی نو مونو یا دیږی لکه سپېڅلی تعصب یا تعصب حمیده تعصب برله یا تعصب مثبت او همدارنګه هغه تعصب چه ناسو ا فاده کړی او څیړ لی چه د بدبینۍ سره مرا دف دی د تعصب بر علیه یا ناوړه تعصب یا منفی تعصب څخه عبارت دی چه تا سو ئې یوا لحې همدغه دو هم شکل تعصب څیړلی دی لکه چه د افغان قا مو س چه ر و یهمر فته خوراجامع او موثق قاموس ور ته ویلی شو د «ت» په ر د یف کښې په (٣٩٥) مخ زما د قول مصداق کیدای شی هلته هم تعصب د ننګه هو ډه او بله ئې ښو ییدل په معنی چه د فا ر سی (حما یت کردن و یاری د ادن) په معنی په همد غو د واړو شکلو نو را غلی دی ښاغلی سیلا نی یو الحې خپله نظریه ښکا ره کړیده مګر د تعصب مو ضوع ئې نده څیړ لی او لا ز مه خودا وه چه د تعصب دواړه خو اوی (منفی او مثبت) ئې څیړلی وای یعنی یو لحای تعصب بد بو لی مګر بیا د تعصب د حقیقت عنو ان سر ه تعصب ښکا ره کو ی همهغه د «کله عصبی شوی یم خبره شوه» زه د یو میهن پر ست او پا تر یو ت په حیث پخپل ملی مرام ټینګار چه د تعصب بل نوم دی کوم او همد ا سبب د ی چه ز ه ملی تعصب خو ښو م او پرو یا ړ م او کوم شی چه ملی منا فع تأمینو لای شی یا د ملی منا فعو سا تند و ی وی زه ئې خو ښو م او طبعا د غه شی ملی تعصب د ی که ملی تعصب نه و ا ی لکه چه هلته مې هم ویلی ؤ او س به نا سیو نا لستیکو جو امعو و جود نه در لودای او جغرا فیا ئې حد ود و او کر ښو به هم وجود نه در لودای او همه بین المللی جامعه چه ځینو فلاسفه ؤ ئې پیشنهاد کړی ؤ یوه جهان شمو له جامعه به تشکیل شوی وای کوم چه دا نتر ناسیو نالیز م په فلسفه کښې مضمر دی سره له دی چه مو نږ ا دعا کو وچه تعصب نه کو و یائې نلرو

نو بیا و لی خد ای ج دې نـکړی تر خپل مذهب یا عقید ې یا خپلې ملی ژ بې یا ملی
تو لنې نه تیر یږو د تعصب نه هیڅو ك وا قعاً ځان نشی خلا صو لی یا په بل عبا ر ت
بشر هیڅکله په خپلې ارزو چه د فرد ا صا لت په اجتما عی اصالت کښې لټوی ورسیږ ی
او هغه بین المللیت چه پیش بینی ئی شوی ده یو و ا قعی شی نشو ور ته ویلای او صرف
د فلا سفه ؤ خو اب و خیا ل ور ته ویلای شو او بیا که د غه جا معه تشکیل کید ونکی
هم وبو لو نو تر د غې لو مړی با ید یوه ملی جا معه خو باید سړی ولری چه دانسان
نسبت خو ور ته و شی تر څو چه په هغه اجتماعی تو لنې کښی و رته خلك په شخصیت
قائل شی او یوه جامعه خپل ملی موجودیت و نه لری نو هغه وخت به په بین المللیت کښی
څوك ورته په کوم شخصیت قائل شی؟؟ بیاهم ښاغلی سیلانی ته لازمه نده چه داد ب پدې
ځلانده عصر کښی دالف لیلا او ورقهٔ گلشا په کتابو استنادو شی او دا به ښه نه وی چه دالفاظو او
کلمو داصطلا حی یا کنا یه وی معنا گانو څخه ستر گی پټی کړل شی، او که دا سې
نه وای نو هیڅ کله به دوی پر تعصب لرلود بد حکم نه وای کړی نه یو ا ځې په عر بی، پښتو
فارسی کښی بلکه په نورو سامی اولا تینی ژبو کښې هم ډیر داسې لغات پیدا کیږ ی چه
تحت ا للفظ یوه معنی لری او تعبیری یا اصطلا حی بله معنی افادهٔ کوی لکه چه په فرانسوی
کښی چه Un د مذکر واحد او Beau د ښکلی او Jour دورځ معنی و ر کو ی مگر که
څنگ پر څنگ داسې ولیکلی شی « Unbeaujour » بیاد ناڅا په نا ببره دفعتاً، نا گها نه
معنی تری مرادیږی که مونږ ملتفت شو د پورتنی جملی د تحت اللفظ او تعبیر په منځ کښی
څومره فرق موجود دی همدارنگه ځینی کنایات چه په فارسی یا پښتو کښې مستعمل د ی
لکه (جوی جاری شد) یا واله بهیږی چه مراد د بهیدلو څخه داوبو بهیدل دی مگر داوبو په ځا ی
واله راغلی د ه همدارنگه نور په زر گونو اصطلات زمونږ د مدعا شا هد دی زه د ښاغلی
سیلانی هغه یو طرفه ا نلیز سره موافق یم مگر دا بله خوائی چه نده څیړ لی ا و حکم ئی
صاد ر کړی دی مخالف یم خدای ج دې و کړی چه دوی زما پر توضیحا تو کفایت و کړی والسلام.

د آذربایجان په مرکز باکو کښې د افغانی کلتوری هیئت د استقبال یوه منظره



د سرچی د نوی ښار سناتوریم «شفاخانه»

لیکونکی آمنه سراج الحق گران

دژوندون اصول

ژوندون یوجنگ دی، یولوی او ډرامائی جنگ، دکوم فتح چه صرف دیو ښه او بهتر بنی آدم یه برخه کیدی شی او کوم کښی چه هریو کمزور او بی کار انسان همیشه بیلات کوی. ددنیادپیدا کیدونه راواخله تراوسه پوری دقدرت بی شماره طاقتونه مثلا ډیره سخته گرمی، سخته یخنی، طوفانونه، بادونه، بارانونه، سیلابونه، اور، زلزلی قحط اوڅه اوڅه ... همیشه دانسان دژوند مخالف پاتی شوی دی اوهر وخت دداسی موقع په تلاش کښی لگیاوی چه انسانی ژوند په خپلو پولادی پنجو کښی ریزمریز کړی مگرانسانی ژوند په هره موقع دقدرت ددی هیبت ناکو طاقتونو ښه په نره مقابله کړیده او ځان ئی تری بچ ساتلی دی.

داول نه اول دانسان دژوندی اوسیدو کشمکش او غورزی پرزی سختی ظالمانه وحشی او بی انتهاوی، لیکن په هغه کښی دځان دبچ کولو ماده دومره زوروره وه چه هغه ددې هرڅه طاقتونو دمقابلی دپاره مضبوطه ملاتړلی وه که بنی آدم ددی طاقتونو مقابله په هغه وخت په همت نه وی کړی نواوس به ددنیا په مخ باندی دده نوم اونښه قدر له هم نه وی پاتی، حالانکه پدی اوسنی زمانه کښی دبنی آدم له خوا د قدرت دطاقتونو سره مقابله اوجنگ دمخکښی نه ډیر لږ شویدی.

ولی اوس هم دا اصول دکانی دکرښی پشان پاخه دی چه صرف هغه سړی په دنیا کښی دژوندی پاتی کیدو حق لری څوك چه دژوند دمخالفو طاقتونو سره په همت طاقت اومیړانه مقابله کولی شی دادنیاوی اصول په هریوشی باندی خواه که هغه قام وی که دقام یو فرد حتی دا که یوبوتی وی، که ونی که چنجی وی که میږی کمئی وی او که نور ځناور غرض داچه په هرهغه څیز چه ژوند اوساور کښی موجود وی عاید کیږی ددنیادا قانون په ظاهر کښی ډیر بی انصافه اوظالم ښکاری اود بنی آدم خیرور کښی نه ښکاری لیکن کچری مونږ ددی مسئلی په غور معاینه وکړو نومونږ ته به معلوم شی چه داقانون زمونږ دپاره ډیری فائدی لری اوپه اصل کښی دا اصول ډیرښه ډیرصحیح ډیراعلی او په عقل اوانصاف برابردی که چیری مونږ په یوه زرخیزه ځمکه کښی یوښه تخم واچوو اویو قابل تجربه کار اوهوښیار بنده دهغه ښه څارنه وکړی نومونږ دهغه تخم یوډیر اعلی او ښه فصل امید ساتلی شو. لیکن که مونږ خراب اوبیکاره تخم وکرو اودهغه نه څه نه راوهم خیژی بیا به هم دهغه فصل کمزوری اوبیکاره وی او که چیری معمولی قدرله هم طوفان یا بادو

باران راشي نو داسي فصل دتولونه اول دمرگ ښکارشي يا که دافصل څه بارهم وکړي نو بياهم ددي قابل نه وي چه بياتري تخم واخستي شي.

همدا اصول په بني آدم هم حاوي کيږي، خداي صرف هغه بنده له ژوندون ورکوي څوك چه ددنيا دهر تکليف او مصيبتونو مقابله کولي اوغمونه زغملي شي دژوند دډير و مزلونو وهلونه پس بنده مړاني اوځواني ته رسيږي وړو کوالي دژوند دتولو نه زياته اهمه برخه ده ځيني واړه دخپلي ناپوهتيا يادبي تعليمه مورو پلار دبي احتياطۍ اوبي پروايۍ د وجه نه دوړو کوالي نه خراب شي، يادبو رشتيني سيني دکموالي اودښو نصيحتو نو دنشتوالي په وجه ژوندون په يوه غلط نظر کښي ووينی اوداسي واړه دجامعي او سوسائټۍ دپاره يوبدنما اوتور داغ جوړشي. ليکن ځيني بني آدم چه پوه وي اوځان کښي څه عقل لري نودفطري دانښي نښاني له اول نه وگوري هغوي بيا دټيټو شيانو په وړاندي سرنه ټيټوي هميشه خپل سراوچت ساتي او خپلي سترگي صرف ښه او اعلي څيزونو ته پرانزي هغوي دخپل وس ټول کوششونه پدي کښي ولگوي چه ددنيا اوجامعي يو کامياب اوقابل فردجوړشي داسي خلق بيادخپلو وړو دپاره هم يوخوشحاله او کاميابه ژوندون پيدا کولي شي. ولي دا زمونږ خوشبختي ده چه په مونږ کښي زيات خلق داسي دي چه هغوي عقلمنداو دانشور مورو پلارلري دلويو هوښيارو خلقو نصيحتونه اودتجربه کار و خلقو تجربه ور سره ملگري ده دخپل عقل وليانت په لحاظ ئې تعليم کړي او سبق ئې ويلي دي او پدې وجه د هغوي دکاميابيدو امکانات ډير روښانه او تقريباً سل په سلو کښي وي.

اوس سوال دادي چه ايامونږ د دې قيمتي اوبي بهاتحائيفونه څه فائيده اوچته کړيده؟ ايامونږ په ځان کښي دښه والي، ښه لياقت اوښو اخلاقو جذبې پيدا کړيدي يادد ې برخلاف مونږ دبې پروائۍ، سستۍ، بي همتۍ يا داخلاقي کمزورۍ په وجه خپل قيمتي وقت او ژوندون هسې ضايع اوبرباد کړيدي.

مونږ ته داچري هم ندي هيرول پکار چه صرف ديوښه انسان دپاتې کيدو اصول داوخت هم په مونږ باندې کاربند دي، داول نه تراخره پوري دا اصول په مونږ باندې مضبوط قائم دي اوهميشه به وي مونږ ددې اصولو اهميت چرې هم نظرانداز کولي نشو اودغير تعميري، کچه اوبې فائيدي خيالاتونه چرې هم فائده اخستي نشو گرانولو ستونکو نوربيا مونږ په يوه گډه وډه دنيا کښي اوسيږو، پداسې دنيا کښي چه پخپله انسان دبل کمزوري انسان پرپ کولو اوخوړلو ته تيار دي.

ځینی طاقتونه دیوبل سره دطاقت جنګ کښې نښتی دی اودیوبل دوژلو او ورکولو په تکل ناست دی پدې وخت کښې هرقام، هریوعقلمند اوذی شعور بنی آدم دا حق لری چه دخپلې آزادۍ اوملی ناموس دساتلودپاره غورزی پرزی او جدوجهد وکړی دظالم خلاف وجنګیږی اودخپل ځان اوخپل قام ازادی نه بغیر ژوندون بی معنی او فضول دی او داسې انسان ددنیاپه تندی باندی یوتور داغ وی. خیرددنیا دداسې جګړو سمولو دپاره خودسلیمان پیغمبر غوندې ژور لیاقت اوجرئت پکاردی بیاهم داژوندون او داژوند یولوی میدان دجنګ دی.

اوپدې کښې هریوبنده ته دخپلی حصې اوبرخې کار سم اوپه ښه طریقه ادا کول پکاردی ځکه چه خدای دهریو معمولی نه معمولی او کمترین نه کمترین بنی آدم اوبشرله هم دماغ او عقل وفکرور کړیدی او هریو بنده دالیاقت او خدا داد قابلیت دخپلې نیمګړی او کامیابۍ دپاره استعمالولی شی. کچرې مونږ داطاقت استعمال نکړو نو دا بیابله خبره ده ولی خدای خوپه هریو بنی آدم کښې لوړوالی ته درسیدو اودښه کار کولو ماده دحد نه زیاته اچولی ده.

اوبیادا زمونږ خپله مرضی ده چه مونږ دی بې کاره پاتی شواودبل پلاس کښې دې لکه دشطرنج دمهرو ګډهم شو. لیکن که چیری مونږ مصممه اراده وکړواو وغواړو نومونږ پخپله دخپل سرنوشت مالک هم جوړیدی اوخپل مامول پخپله بدلولې شو ولې داسې موقع په ژوندون کښې اکثر راځی چه بنده دې دهغه نه فائده واخلی اوخپل ځان دې اوچت او کامیاب کړی. بل داچه په دنیا کښې صرف جسمانی طاقت هم هرڅه نه دی په جسمانی اودماغی طاقت کښې دحد نه زیات فرق دی دماغی طاقت زیات زورور اوطاقتور دی چرته چه جسمانی طاقت بی کاروی اوهیڅ هم نشی کولی نومونږ دمازغو په برکت لوی لوی غرونه نړولی شو ځکه ددنیا دسختو اوخطرو دمقابلې دپاره مونږ له پکاردی چه اول دخپلو کمزورو مقابله وکړو درشتیاو او دانصاف طرفداری وکړواو دبل دژوندون دخپل ځان نه زیات خیال ساتو ځکه چه په هریو بنی آدم کښې کمزورۍ ضروروی اوزمونږ کامیابی پدې کښې ده چه ددې علاج وکړو. خپلی غلطۍ ومنو اودبل حق هغه له ورکړو صرف بیامونږ پدې دنیا کښې یوخوشحال او کامیابه ژوندترلاسه کولی شو. کنه نوددنیا دلوی طوفانی سیلاب په وړاندې مونږ دیو خسنی حیثیت لرواو کچرې مونږ داخپلې کمزورۍ دځانه ونه غورځوو. نوداسیلاب به مونږ دخاورو اوخسنو پشان له ځان سره لاهو کړی دنیا به مونږ هیر کړی

اوزمونږ هستی به داسې ور که کړی لکه د سیلاب په مخکښې چه خاورې خسنی لاهواو د صفحهٔ هستی نه ورك شی. لیکن کچرې مونږ کښې همت شته او مونږ دماغو او دماغونه کار واخلو نو ټول مصیبتونه او غمونه به په خوشحالی بدل شی زمونږ مخالف طاقتونه به زمونږ ملګری شی.

مونږ به خپل ژوندون او خپل مامول خائسته او روښانه کړی شو او په ژوندون کښې به د خوشحالی سره هم غاړه غاړی شو او د مرګ نه پس به هم په دنیا کښې زمونږ نوم او نښې نښانې پاتی شی. شاید چه خدای تعالی به دا سختی او مصیبتونه زمونږ د آزمېښت دپاره پیدا کړی وی که مونږ ددې په امتحان کښې کامیاب شو نو زمونږ ژوندون به څه معنی او مقصد ولری بیا به مونږ د خپل ځان او د خپل مأمول نه خوشحاله یو همداد ژوند اعلی راز او اصلی قانون دی که څوك پدې پوه شو نو بیا هره بوه سختی او مصیبت دهغه دپاره د کامیابی او خوشحالی یوه نښه ده.

ښاغلی دوست شنواری

مه وایه

نور راته کیسی ددی بی قدره ژوندون مه وایه
نوری نا کردی راته د نن او پرون مه وایه
مه می ژړوه ګوره ژړا ته می څوك نه پریږدی
بس کړه راته حال دوزی تیری پښتون مه وایه
غرقه که می نکړه دمغرور کشتی په اوښکو کښې
هومره می داوښکو طوفانونه جیحون مه وایه
کلك لکه چه کانې وی دمینی په کښې سوز نه وی
هغه زړه ته راز ته دوصال او بیلتون مه وایه
څه زده دی دمینی ناز او نیاز د نیا پرستو ته
هغو ته رمز او راز د محبت او جنون مه وایه
هلته د کوتك خاوندان کله قانون پیژنی
نه هلته دحق او عدالت او قانون مه وایه
تا نه چه ژړا او ښکی خندا کښې هیری شوی دی
د «دوست» دزړه به وینو لیکل شوی مضمون مه وایه



دلیننگراد دمسجد یوه برخه

که ئی و وینی دوزخ ورته حیران شی
ستا دغم په لمبو سوی تور سکاره
د فلك د باغوان لاس د پریکید و دی
پر جهان چه ئی د بیلتون تخم کاره
ارا ده چه ئې د زړو دښکار کوله
خیال ئې زړه زماله او له وڅاره
دغه ستا له ډېره جوره ګل رخساره
تل می ځی ترخو لې لمبې دتناره
پر « حنان » باندی به څر نګه تاخت نه که
رقیبان دې کړه د عیش پر آس سواره

* * *

پر سرو لمبو د خط لیکه رښتیا راغله
که له چینه بدخشان له سودا راغله
په امید چه صبر ناست دزړه پر سرو
ژرو لاړ شو چه د هجر تنا راغله
ولی نه ژاړم له دې غمه سرې ستر ګی
چه د یار د جفا سخته پر ما راغله
ما شکوه د رته کوله له رقیبه
نه پوهیږم چه پر څه دې خندا راغله
ستا وصلت درقیب مرګ ز ما اختر دی
امین کاڼی ء پرخوله څه ښه وینا راغله

گل ومل یارو ساقی ساز و غزل دی
څه که ما نه دځوانۍ ئې هوا را غله
دازل قاسم جه وېش کاوه د بر خو
ستادغم بر خه «حنانه» تنها را غله

* * *

خیال دې یووړ په تا راج ز ما د لر ېشه
دا د صبر متاع کمه وه که بېشه
له شوخی دې ددووستر گو څه فریاد کړم
د تقوی خرقه ئی و کښه له در و ېشه
زما په باب دعشق خواری ده اې نا صحه
دادپند څرخی دې پرېږده مه ئې ورېشه
له رقیبه نیك خلقت قدر ی محال دی
له ز نبور ه څه فا ئید ه د ه بی له نېشه
مخ دې و یا سته د خط په محصلا نو
صد سا له شیخا ن یوه گړ ی له کېشه
خبر نه یم چه په عشق کښې وړاندې څه دی
نری لار کړ ه نا لید لی خدای را پېشه
اې «حنانه» صبرو کړه مرادبه مو مې
د فلك ژر نده په وا ر د ه پس و پېشه

* * *

که روزی می شی د یا ر د ید ن ر قیبه
ته به شې په د ا ا ند و ه غمجن ر قیبه

راته را م که تر هید لی آ هو بیا شی
ته به شی د سپی په د و د پمن ر قیبه
که را وا ر و ی په مهر تو ر ي ستر گی
ته به شی په د و و لیمو لچن ر قیبه
که ماو و ینې له یا ر ـ سر ه و صل
زره نا سو ر به شی بیما ر په تن ر قیبه
که یار داد دبوسې و که پر ما با ندې
له دغه غمه دې دی مر گ ښه ای ر قیبه
که یار یار شی ته به در و می له و طنه
لکه سپی چه و شر ی خښتن ر قیبه
نور به و نه کړی دیار در خسا ر سیل
شو «حنان» به ران ددې گلشن ر قیبه

* * *

چاچه ور کړ ز ره وزلفو د د لد ا ر ته
بې ا ختیار ه ئې لحا ن وسپا ر ه و ما ر ته
دیار زلفې د هغو دی چه مجنو ن شی
دالخنجیر نه ور کوی خو ك وهوښیا ر ته
مخ اوز لفی ئې تغیر او تبدیل نه کا
حیر ا نیږ م زه و د ې لیل و نها ر ته
لاس مې رنگ شی لکه گل په خپلو و ینو
اشارت چه چیر ته و کړم و ر خسا ر ته

چه نسیم ئې پر ګلشن د حسن و رشی
زړه ئې نشی چه بیا و رشی و دیار ته
تېر شو زر ځله صیاد له ما ضعیفه
التفات ئې یووار نکړ زما وښکار ته
ما «حنان» کړې زر چشمې جاری له ستر ګو
ګوندې راشی سروقد و دې جو یبار ته

* * *

چه ئې و کا ته ستا مخ ته له عبر ته
دلا له په زړه کی داغ شو له غیر ته
چه نرګس داستا له ستر ګو هم چشمی کړه
ولی هسی شو معلوم له بصیر ته
چه ئې ستا دخولې خندا ملاحظه کړه
پستې وازه خو له نیولې له حیر ته
بوی چه لافی ستا د زلفو د بوی کړ لې
لاس ئې ولی و خا ته له خپل صور ته
داد کوم ګلرخ و مخ ته بې تا بی کا
چه ګلاب، ګرېوان کړ څیری له حسر ته
مشرف ستا په دیدن شوه په ګلشن کښی
غونچې وا چاوه پوړ نی له عشر ته
دو فا طمع له ښکلیو نا روا ده
ما «حنان» دی از مویلې څو کر ته

چه نامه مې وه لېږلی و خپل یار ته
هېڅ جواب ئې بیارانغی و ما خوار ته
زړه می دم خوری له سینې په خبر نه یم
دا دستر ګو بازئې بیا راځی و ښکار ته
په فراق کښی اوښکی هم را څخه زغلی
که څه خپل وی که پردی ګوری و وار ته
ترمادی پریار عاشق ؤ خبر نه وم
دزړه حال می خوشی وو ایه رو یبار ته
خدای مې نه په کور کوی ګڼه دلبره
هر بانهودې تېره تېغ دی وګذار ته
چه دعشق نامه ئې زه قاصد ته ور کړم
سودائی شی هرګز نه ګوری ولار ته
د مخ حسن ئې په خط زیات شو «حنا نه»
شعله کاندی چه واښه لو ېږی و نار ته

* * *

نه پوهېږم یم بېخوده چه یار نشته
څوك یم څه یم زه حیران چه نګار نشته
اوښکی در، رنګ کهربا، زړه لکه لعل
جنس می ډېر، ولی رونق دبازار نشته
چه طبیب شو په علاج راپورې ستړی
هسی درد په هیڅ ایام د بیمار نشته

واړه زړونه ئې په خیال دی هسی محو
چه پر سرد ځمکی یو زړه هو ښیار نشته
جدائی مو تر میان مه کوه رقیبه
چه طاقت د نه لید و د دلدار نشته
که می سرو دعوې کاندی په قدڅه شو
رښتیا وائی شاهدان د رفتار نشته
د زړه وینې خوری «حنان» له دغه غمه
چه په درست عالم کښی یار وفادار نشته

* * *

داد خط سبزه د مخ و سره ګلاب ته
که مېږیان دی سر ګردان ودې مهتاب ته
خط ئې زړه دراتلو نشی کړای ومخ ته
لکه ګرم سړی چه بیائې و حساب ته
چه له مخه زلفی وا خلی عاشق سوځی
طاقت نشی داور یځی و آفتاب ته
د بالښت پری بانو د پیری بویه
چه د ناز سترګی مایلی شی وخواب ته
خیال د لبو دې زماله د له نه ځی
د می خور و میل ډېر شی و شراب ته
لاسو پښې وهی بېځا «حنان» په عشق کښې
ختای نشی څوك چه ولو ېږی ګرداب ته

د نـو خطو مینی هسی کـړ م بې پته
چه و هی می هر مېږ ی او مچ په لته
نه د خپلو اوس په کـار نه د پر دو یم
عـا شقی کـړ مه تر حده بې عـز تـه
ستـا وحسن ته سوړ آه درقیب زیان دی
گـل رژ ېږی د سـا ړه بـا د له هیبته
د گل رخو داغ می شته په زړه پوهېږم
چه لا له به می ز ر غون شی له تر بته
د هجران په رنځ احته یم دوا را کړه
ر و غ به نشم ستـا د لبو بې شر بته
آ د میت می ستـا د در له سپیو و لید
آ ز مو یل نشی څو نه و ی هم صحبته
چه می ژوند په دوی مو قوف دی څه پرهېز کړم
زه « حنـان » د خوب رو یانو له قربته

* * *

که د ز لفو بو ی د ې با د یو سی خطـا ته
د ختن مشك به بیانه و ړی و سو دا ته
د دیدن طـا قت د ې نلر م حیر ان یم
زړه مې و لی اضطراب که ستاو خو اته
ستا لبـا ن می په خندا و ژ نی د لبر ه
بخت مې خوی د اجل و ښود میسحا ته

چه موی ولو ېږی په ستر ګو کښې دید کم شی
د ملا خیال دې ځکه جوړ کړم وژړ انه
سپېلنی رنګه ترپښو لاندی می اور دی
ستا دخال په خیال کښې سوځم وایم چا ته
تو کلت علی الله چه شوه را پېښه
سر می وا چاوه د مینی و آسیا ته
چه دې خوښ دعشق غمونه کړل «حنانه»
دا نسته دې ځان ورو سپاره بلا ته

* * *

زماله زړه سره که ستا دستر ګو جنګ شته
له دې جنګه زما کله نام و ننګ شته
بې طبیبه یم بیمار لکه ستا ستر ګې
چه کاته را باندی یار لکه دننګ شته
له رخساره یم فارغ د ګلعذارو
چه په خیال مې ستا دخط دسبزی بنګ شته
دا ستا شوق امیدوار کړی یم دلبره
بې وعدی کړم انتظار هر ځای می درنګ شته
لکه ګل هر څوك به ځای په سر کښې ور که
دغو نچی په دود چه زړه او خوله یو رنګ شته
بې لاله مې بل یار نشته په دا باغ کښې
چه پر زړه باندی ئې داغ زما په رنګ شته

په دربار کښې دې خاکساره یو «حنان» نه دی
د پرد و هه ستـ دار هر سړ ی ملنګ شته

* * *

چه دې خیال اراده و کړه زما وزړه ته
نور خواهش می د زړه نشی و بل څه ته
ستا بې خیاله می په زړه کښې بل څه نشته
لـکه تـبزی منتظر وی و او بـو ته
توری زلفی دی شب قدر نه دی څه دی
چه د نمر شغلی کوی له هـره و ته
نه د ر یبزی په هیڅ طور زمـا اوښکی
که لا س نیسم که لستو نی و لیمه ته
هیڅ د عشق له بـابه مه وا یه زاهد ته
سپین رنګ کله ښوه کیږی وړانده ته
سوړ زړه نه غواړی صحبت د ګلر خانو
نصیحت کـله وا یـه شی و بیده تـه
وه شعله ته د رخسار دی زه «حنا ن» یم
منتظر لـکه پتنـګ د ځـا ن و سوه ته

* * *

خجالت کـا زی مهتاب ستا وجبین ته
منفعل د محشر غر د ی ستـا و د ین ته
لـه هغه ر نځه د ی جـو ړ نشم طبیبه
چه تر سر پورې مې یا ر ناست وی با لین ته

زما یار له نادانی نه رقیب خپل کړ
د بلبلو خیال ئې د کړو گلچین نه
له معشوقه غرض مهر و دلبری ده
عشق ئې نه گوری هرگز وتورو سپین نه
کوز سری په تربیت کله سمبیږی
له عینکو څه فائده ده و کج بین نه
ورکیده د «حنان» و نیم له وطنه
چه خپل یار ئې ملا تړلی ده و کین نه

* * *

دا بنایست لکه چه ستا دی دنمر نشته
ستا د زلفو په شان مشك و عنبر نشته
تورې زلفی توری وروځی توری ستر گی
د حبشو د چین هسی لښکر نشته
شیر نی چه ستا د لبو ده د لبره
په چشمه کی د حیات د کوثر نشته
کام دزړه دلته حاصل کړه له نوخطو
په جنت کښی دا ریحان معطر نشته
لار به نه مومی وزړه ته څو سم نشی
د حلقې مقام د ننه تر در نشته
په مجلس د گل رخانو لحای نه مومی
څوئی شمع رنگه قطع د سر نشته
چه تور دیو رقیب پناه نه شو پوهیږم
چه په آه کښی دی «حنانه» اثر نشته

د فلك سود په ماه په پـر و ین شته
په رخسـار زماد یارهم ز لفی چین شته
که غنچه سبزه لر ی پر بغل څه شوه
ستا پر خوله سبزه د خط عنبر ین شته
لکه خوند چه ستا دز نې د ی د لبـره
ثمر قند کښی هسی سیب کله شیرین شته
په گلشن کښی گل تر تا خوشاله نه شته
نه په مینه کښی بلبل تر ما حز ین شته
یار بې رحمه زه بې بخته طالع شوم د ی
لاهنو ز د دې فلك را سره کین شته
دملا خیال دې زه «حنان» لکه و ېښته کړم
نه غلط شوم کـله موی هسی میین شته

* * *

بېرته شوم دیار له و صله سل فر سخه
لاهنو ز ده د رقیب را با ندې سخه
دمعشو ق حقیقی و صل جنت د ی
دهجران اوری تېری که لـه دو ز خه
که تمـام عمر قیمت ور کړ م ښا ئېږی
پر بو سه د سا ده لو حو له ز نخه
دواړه کونه په نثار له ما قبو ل کړه
د مېږ ی کو مه هستی ده بې ملخه

دابورادی چه پر پانی دګل ناست دی
که پرمخ دګل عذار ده توره زخه
درقیب سوړ آه افت داستا د مخ ده
چه د نمر چشمه یخېږ ی له دې یخه
دنظرحجاب تورخط شونه پوهېږ م
که بلا راغله «حنانه» ستاله مخه

* * *

غنچه هم له خون د لا نو څخه ستا ده
چه په فکر دې ذخو اې ډو به تنها ده
دباغ ستر ګی چه روښانه ستا په دید شوې
په دغه زیر ی ئې سر و کړه آ زا ده
شکوه مه کوه دیار له شو خو ستر ګو
رحم عیب دی داچه کیږ ی له جلا ده
و منزل ته ئې د و صل نه ر سیږ م
دچرسی په دودمی زیست دی له فریا ده
په افسون به مې زړه څوله یاره پر ېکړ ی
سپلنی ته د اور ډ ېر ه تمنا ده
که مې زړه په او ر سیځی عجبه نه ده
چه پرتا مین کید م دا مې سزا ده
کې له جوره «حنان» ژاړی عیب ئې نشته
د کمزو ری دزړه سو ده په ژ ړا ده

چه غنچه شی غوړېد لې هو مره ښه ده
یار ترخوله خبر یستلې هو مره ښه ده

معامله دعشق سړی له پر دې باسی
چه په زړه کښی دې ساتلې هو مره ښه ده

دمخ حسن ئې دخط په را تلو زیات شو
صحیفه چه وی لیکلې هو مره ښه ده

توری زلفی سراسر مضمون د کفر
دا نامه چه وی پېچلې هو مره ښه ده

ستر گې مه بیدارویء دناز له خوابه
دا فتنه چه وی نیولی هو مره ښه ده

سیب دزنی کې دخط پاڼی کړه لاندی
دا مېوه چه وی پوښلی هو مره ښه ده

په تعریف کښې دخپل یار دوصفه هسی
دا آشنا «حنان» ویلی هو مره ښه ده

* * *

چه اغوستی ئې بیا هسی سره جامه ده
په نظر کښی د سوختن کومه قومه ده

د کښرو کتو طاقت ئې د چانه ؤ
اوس ابرو مژگان و زلفی عمامه ده

هېڅ جواب ئې بیا قاصد بېر ته رانه وو
چه لیږلې می و یار و ته نامه ده

داپنځه ورځی ژوندون چه غنیمت دی
له هجرانه پر ما یوم القیامه ده
پرر قیب دې کړه پیر زو دلبو شهد
په تمام عمر زما ځینی صومه ده
دفردوس دشهد هیڅ پروا دار نه دی
دهغه چه ستا دلب بوسه طعمه ده
چه ئې ملا نینګه تر لې ده «حنا نه»
په تعریف دسروقد داستاخامه ده

* * *

دیاری ئی هسی گرانه ماشوره ده
چه دعقل په لاس نه راځی کوره ده
دمجازسمند ئې ژرمیدان نه رسی
چه خو ر لې ئی دصبر کوره ده
داشنای هجر کوتلی هسی شان یم
چه تراوسه می پرزه باندی موره ده
ظلم کړه پر ما په خوش یم نه پر نورو
ستا جفا زماخواری سره جوړه ده
له هیبته در ته هیڅ و بلای نه شم
کنه کله زما ژبه کانګوره ده
زماله مخه ور قیب ته قهر کاندی
په دا څه شوه پوهیدلی یم دوره ده

دیاری زراعت هیڅ حاصل را نه کړ
د «حنان» زیار حبطه تشه لوړه ده

***

دمهر و یو د مخ هسی صفائی ده
چه ئې وړی له افتابه روښنائې ده
که په تور دتوروزلفو تور شوم څه شو
دتور بخت له تورو زلفو اشنائې ده
له هر ښکلی نن خیرات د حسن غواړم
چه اخستې می کاسه د ګدائې ده
په غرور د حسن نه ګوری هیچا ته
نه یوازی له ما بې پروائې ده
که له نازه چا ته سم نه ګوری څه شو
ولی خوی ددلبرانو خود رائې ده
ده سختی دز کندن ورته اسانه
و «حنا» ن ته د اشنا ترجدائی ده

***

ستا دستر ګو وخمار ته فتنه څه ده
و خنجر ته د غمزې دی سینه څه ده
لب یا قوت دی دزړه قوت غاښ مرغلری
ستا و مخ ته دسکندر خزینه څه ده

که دې غا ښو منفعل در یتیم کړه
ستا دلبو و حیا ت ته چینه څه ده
زا هدمه پوښته د عشق له شره شوره
په لوی جنګ کښی دا بې زړه ار تینه څه ده
څه تعریف کوې دمیو و زا هد تـه
وړا نده تـه د بلور آئینه څه ده
زړه چه مات شی په خبرو نه رغېږی
دا په دا چه و ښېښې تـه پینه څه ده
ستا په تش ما نۍ کی دی قتل «حنان»
نو رئې مرګ نه ستا په زړه کی کینه څه ده

***

که خبر وا ی دغه ستا د عشق له ړنده
ما به کله مینه کړه په هسی منډه
کله کړه ما سر کشی دا ستا له حکم
چه میډه دې کړم د هجر په کر کنډه
لا تر کو مه ستا جو ره له ستمه
پر هر در با ند وا ئېږم لـکه کو نډه
اوس اجل له خدا یه غواړم په سل خواست
چه می سا ه شو ه ستا له غمه را ته لنډه
تن پرور کله خبر د عشق په درد دی
لـه ډ بر و و ی فا ر غه و نه شنډه

چه او ږده وعده دزلفو په خاطر کړم

په دا غم می شی دعمرر سۍ لنډه

په ازل چه ئې تقسیم د برخو وکړ

په نصیب زما «حنان» شوه دعشق دنډه

***

اې مدام د بل په کمه روا داره

نیکی نه کوې بدی لره تیاره

قدم مه ږده پرعاجز مېږی په ظلم

نه چه دغه پښه دی و مښلی له ماره

هرڅه وړې سبابې راوړې لږ که ډېر دی

دا چه نن ئی په ستم اخلې له خواره

کبر مه کوه چه کبر پرخدای ښائی

چه راندې په دا شیطان شوله درباره

تکیه مکوه پرمال فرزند بې بخته

که دې مال که فرزند دې ناپه کاره

داجل صیاد طلب داستا دروح که

ته طلب د مال اسباب کړی ناقراره

که دا پند د «حنان» و نیسې په غوږ کښی

دی بهتر له هغه ګنجه بی شماره

* * *

ستا په درد کښی ژبه لال شوه له تقدیره

پس له دی می ګذران دی له تحریره

په یوه نګاه خراب کړم مستو ستر ګو

اوس مدد غواړم د عقل لـه تدبیره

امید وار ئې کړم و وصل ته ستا د زلفو

چه په شپه کښې د عانه وی بی تـاثیره

چه د آه غشی تا ثیر پر سنګدل نه کا

آه فریاد دې وی له آه بې تـا ثیره

نخجیر ان د زړونه پر هوا ته له شوق

چه ئی شست د غیرت شناخت و کړ د پیره

چه هر دم مزری د هجر در نه ګوری

لا به نه وی د عـاشق ګـو نه تغیر .

په دولت کښې د ځوانۍ ئی رحم بو یه

مین شو پر تا «حنـان» په سپینه زیره .

* * *

مړ شوم زه داستا دغمه بـاور نه کړې نا باوره

آئینه درخسار راوړه زما وخوله ته برابره .

اخله باج له خوبرو یا نو ددې عصر له ترکا نو

اوس په دا زمان کښې واړه ستا رعیت دی دلاوره

ای قاصده د خدای روی دې دیار ولی هغه خوی دی

اوس په حال می خبر نه دی دا در نځ خبر می ورور .

قتلوه رقیبان واړه خون ئی نه دی در پغاره

دخنزیر قتل روادی په کتاب سره دلبره .

ای زړه خوشی هوس کاندی ددلبر ددو؟؟؟زلفو
په داهسی ښا مارانو و یسامکړه پا نو گره
زړه یوه قطره دوینو زیاتی نه ده حیرا نیږم
چه چشمه دوینو ولی زماله ستر گوځی یکسره
پر مرگی دی ستاله غمه یوار ورشه عیسی دمه
د «حنان» له حاله لږ څه خبر واخله نا خبره

* * *

نقاب وا خله یوار مخ لکه آ فتاب کړه
باغ ته ورشه په دیدن گلاب سیراب کړه
و طرف ته د باغ و گوره سیا چشمه
په کتو سره نرگس د باغ خراب کړه
لکه خوار کړم هجر هو مره و صل غواړم
د هجران ور ځی له ما سره حساب کړه
نیکنا می را څخه تللی ده بد نام یو
ای ناصحه زمونږ له لوری اجتناب کړه
ستا له غمه په خپل عمر یم موړ شوی
دغب غب تیغ می په وینو کښې خضاب کړه
په مجلس کښې چه زا هده یار ساقی وی
د تقوی اسباب دی رهن د شراب کړه
په مجلس کښې چه دیار می خوری «حنانه»
که شی پیښ د فرشتی و زر کباب کړه

فهم او فکر هوش یکا ر د کر د کار کړه
ځان سوخته د محبت په تا زه نار کړه
تمام عمر به شیرین در با ندی تیر شی
د مچی په دودمدام کښت د گلذار کړه
چه ملك پاك وی دهقان نه در بغوی تخم
ته هم توی د ندامت او ښی سها ر کړه
که د حشر په عرصه کښې اما ن غو اړې
دلته ځان خلاص د دنیا له خسوخار کړه
د قیا مت د تر از و کا نې کم نه د ی
ملا متو لر ه د لته ځا ن تیا ر کړه
غنیمت دی دا خو ور ځی چه ژو ندی ئې
تو ښه واخله کاروان کوچ و کړ تلوا ر کړه
چه شفیع دهر عاصی دی په محشر کښې
ای «حنانه» ځان ئې خاو ری د در بار کړه

* * *

بیتا خه کوم صحرا او بوستان دواړه
په کا ر نه لرم بها ر و خزان د و اړ ه
پر هر ځای چه کښینم پاځم آرام نه یم
عشق دی یو کړه راته ښهر وبیابان دواړه
ستا د لبو و سر خی ته حیرا نیږ م
چه شرمیږی ځینی لعل و مرجان دواړ ه

حذر کړه اه کښو و روځو له مژ ګانو
چه لری په لاس کښې غشی کمان دواړه
کښې ور ځی توری ستر ګی سره ګوره
بل څه نه دی بلکه قوس و میزان دواړه
دا د چا د مخ له شوقه په ګلشن کښې
چه ګل څیری کړه لمن ګرېوان دواړه
د مجاز له مینی حق غواړه « حنانه »
د ر پسې دی مدام نفس و شیطان دواړه

* * *

د ګل رخوو صلت غواړه جست وجوی کړه
د بلبل په دود طمعه د ګل په بوی کړه
که هوا د موی میانو د آغوش کړی
په غموئې ځان باریك په‌شان دموی کړه
که دیدن د مهربانو دی مطلب وی
د زانو آئینه مخ ته روی به روی کړه
د یار خیال چه را ولې د زړه تر کوره
په قدم کښې ئی ګوهر دستر ګوتوی کړه
که پرځان ئی ټوله وی دهوس وړ و کی
له او له خراب زړه مجنون د دوی کړه
که مقصود په عشق غواړی واړه پر ېږده
بې له دې چه له معشوقه ګفتګوی کړه

عاقبت به زړه تر لاسه کړې «حنانه»
لکه زلفی د نگار تواضع خوی کړه

* * *

وخت د سازو د صحبت راغی عشرت کړه
ننگ و شرم واړه جار تر دې نعمت کړه
جوش د گل نژدې شو وخت د پیالې راغی
خار په ستر گو کښی د غم او د حسرت کړه
د گلذار وصال تر می تر نشه ښه دی
د زړه جام دی ډك په میود نگهت کړه
ښا دی راغله استقبال لره ئې درومه
عیش مېلمه دی یو څوورځی ئې عزت کړه
وخت د گلو د پیالې د صراحی دی
ته هم و نیسه پیاله ځان فراغت کړه
زمزمه که هر بلبل د گل د مخه
دا څوورځی له غمو ځان په راحت کړه
بلبل موړ د گل په دید شوای گل رخه
«حنان» هم او به دلبو په شربت کړه

* * *

د جادو څخه د تور و ستر گو امان غواړه
ابادی د زړه کړی یو ساعت ویجاړه
ستا د قد و خرامان رفتار ته هسې
په یوه پښه د باغ سروه ده ولاړه

له‌خجلته ستا دستر گوپه گلشن کښی
په خواب تللی دی نرگس وشهلاوا ړه
عاقبت دز ړه مطلب په ژړا موند شی
مرغلری بې دریا به نشته ژاړه
چه‌هردم ئې‌زړه گنډم داپاره کېږی
دا سینه هم له گنډلو سره ولاړه
دشوخ چشموآرزونه که نونور څه که
داآهو چه ک ته که په لوړه غاړه
دهجران مرض «حنان» له‌بزمه‌پرې‌یوست
ورته راوړیء داشنای دژبی لاړه

* * *

دا دنیا وما فیها چه وو ینې واړه
ثبات نه‌لری هرگز مه پسی ژاړه
«واذا حکمتم بین الناس» واوره
حق باطل سره‌جدا کړه‌مه ئې نغاړه
مدامن چه لکه‌باز غوښی دقام خورې
عاقبت به‌شې بندی په پښو په غاړه
جوړ وې نوی قصر و نه خبر نه ئې
نن سبا دی آبادی و نیم ویجاړه
فکرو کړه وخت کوتاه دی‌وبه لوېږې
ددنیا پرلانده پاڼ باندی ولاړه

مورو پلار عزیز په هېچا دی ښه نشته
لونددی حلق د هرسړی په خپله لا ړه
شپه وورځ یسی ژړا کوه «حنانه»
د همزو لو قا فله در څخه ولا ړه

* * *

پرسپین مخ ئې خط پیدا نه شته تر او سه
داسبزه پر دا صحرا نشته تر او سه
په ماتم دخط ئې نه دی ز لفی ښکتی
پرسپین مخ ئې لاغو غا نشته تر او سه
پرمهتا ب ئې لا ها له له حط نشته
احا طه پر قمر ستا نشته تر او سه
دمخ نمرئې لاخط نه دی تا ر یك کړی
داتیا ره پر دی رڼا نشته تر او سه
مشق د کید په مکتب کی د خط کم دی
پر کاغذ ئې دا ا نشا نشته اتراو سه
باد دخط څراغ دمخ نه دی گل کړی
له دې شپې ئې لا پر و ا نشته تراو سه
لاردرحم لاخط نه ده ترسر بیولی
له «حنانه» چه وفا نه شته تراوسه

* * *

تنها نه یم زه بې آ ب دزړه له لا سه
عا لمو نه د ی خر ا ب دز ړه له لا سه

مجله کابل (۸۵۰) نسخه ب گل حسن ر پاینده محمد

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ
۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ
۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ
٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ
٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ
٦ : پښتو نثرونه د محمددین ژواك تدوین یوجلد په (۱۲) افغانۍ
۷: پریشانه افکار: د ښاغلی بینوا اثر یو جلد په (۱۰) افغانۍ
۸: نړۍ په دوه زرم کال کښې د ښاغلی واسعی ترجمه
۹ : افغان قاموس دوهم ټوك ....
دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواږه ادب ادبی ننده ماتوی .
دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ یوازینۍ وسیله ده.
دا مجله د نیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی.
تاسې کولای شئ چه د اتنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د نه هیواد کښې
په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدار ی په نورو دباند نیو هیوا د ونو کښې
په (۳) دالره ماته کړئ
د ښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .
د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې د مدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په
ولایاتو کښې د همدی مؤسسې د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه